Washington Office of Superintendent of
PUBLIC INSTRUCTION

# د زده کوونکو او د هغوی د کورنیو لپاره د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خوندیتوب خبرتیا

2023

# د زده کوونکو او د هغوی د کورنیو لپاره د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خوندیتوب خبرتیا

*د معلولیت لرونکو کسانو د زده کړو قانون د B برخې له مخې اړتیاوې، فدرالي مقررات او د ځانګړو زده کړو د اداره کولو دولتي مقررات*

**د 2023 اکتوبر**

## ډاکټر Tania May
## د ځانګړو زده کړو مرستیاله ناظره


**چمتو شوی لخوا دي:**

- **ځانګړې زده کړې (Special Education)**
  speced@k12.wa.us | 360-725-6075


Washington Office of Superintendent of
PUBLIC INSTRUCTION

# لړلیک


عمومي معلومات ..... 6
د پروسیجري خوندیتوب خبرتیا ..... 6
له مخکي لیکل شوې خبرتیا ..... 6
مورنۍ ژبه ..... 7
بریښنایي پوست ..... 7
د والدینو رضایت - تعریف ..... 7
د والدینو رضایت – اړتیاوې ..... 8
د ابتدايي ارزونې لپاره رضایت ورکول ..... 8
تر ایالتي پاملرنې لاندې ماشوم د ابتدايي ارزونې لپاره ځانګړې قاعده ..... 8
د ابتدايي خدمتونو لپاره د والدینو رضایت او د ادامې لرونکو خدمتونو لپاره د رضایت ردول ..... 8
د بیا ارزولو لپاره د والدینو رضایت ..... 9
د والدینو رضایت ترلاسه کولو لپاره د معقولو هڅو اسناد ..... 9
د رضایت نور معلومات ..... 9
خپلواکې ښوونیزې ارزونې ..... 10
تعریفونه ..... 10
په عامه لګښتونو سره د IEE د ترسره کولو لپاره د والدینو حق ..... 10
د والدینو لخوا پیل شوې ارزونې ..... 10
د قانون د اداري قاضیانو (ALJ، Administrative Law Judges) لخوا د ارزونو لپاره غوښتنې ..... 10
د حوزې معیارونه ..... 10
د معلوماتو محرمیت تعریفونه ..... 11
شخصي معرفي کوونکي موارد ..... 11
والدینو ته خبرتیا ..... 11
د لاسرسي حقونه ..... 12
د لاسرسي سوابق ..... 12
تر یوه ډیرو ماشومانو په هکله سوابق ..... 12
د معلوماتو د ډولونو او د هغه د موقعیتونو لیست ..... 12
فیسونه ..... 12
د والدینو په غوښتنې سره د سوابقو تعدیل کول ..... 12
د استماعیه غونډې د غوښتلو فرصت، د استماعیه غونډې پروسیجر او د استماعیه غونډې د غوښتلو پایلې ..... 12
د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو د افشا لپاره رضایت ..... 13
د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو لپاره خوندیتوبونه ..... 13
د معلوماتو تخریب، ساتنه او ذخیره ..... 13
د ځانګړو زده کړو د شخړو د حل پروسیجر ..... 14
منځګړیتوب ..... 14
عمومي ..... 14
د منځګړي کس بې پرې والی ..... 14
په منځګړیتوب کې لاسته راغلې موافقې ..... 14
د ځانګړو زده کړو د تولنې د شکایتونو د څېړنو/تحقیقاتو او قانوني پروسې د استماعیه غونډو تر منځ توپیر ..... 14
د تولنې د شکایاتو پروسیجرونه ..... 15
د شکایت ثبتول ..... 15
د شکایت څېړنې/تحقیقات ..... 15
څېړنه، غځونه، لیکلې پرېکړه ..... 15

د شکایت علاجونه/حل لارې ........ 16
د خانګړو زده کړو د ټولنې شکایتونه او قانوني پروسې استماعیه غونډې ........ 16
د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونه ........ 16
عمومي ........ 16
ثبتول ........ 16
د قانوني پروسې د استماعیه غونډې تر غوښتنې مخکې اړینه خبرتیا ........ 17
د استماعیه غونډې کفایت ........ 17
د استماعیه غونډې د غوښتنې تعدیلات ........ 17
د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پر وړاندې د ښوونیزې حوزې ځواب ........ 17
د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پر وړاندې د بل لوري ځواب ........ 17
نمونه‌ای فورمونه ........ 17
په هغه وخت کې د زده کوونکي ځای پر ځای کول چې د قانوني پروسې استماعیه غونډه د انتظار په حالت کې ده ........ 18
د اختلافاتو د حل و فصل پروسه ........ 18
د اختلافاتو د حل و فصل ناسته ........ 18
د اختلافاتو د حل و فصل موده ........ 18
د اختلافونو د حل و فصل 30 ورځو مودې سره سمون ........ 19
د جوړجاړي لیکلی توافق ........ 19
د تړون یا توافق د بیاکتنې موده ........ 19
د قانوني پروسې بې پرې استماعیه غونډه ........ 19
عمومي ........ 19
د قانون اداري قاضیان (ALJ) ........ 20
د قانوني پروسې استماعیه غونډې موضوع ........ 20
د استماعیه غونډې د غوښتنې لپاره مهالویش ........ 20
په مهالویش کې استثناوې ........ 20
د استماعیې غونډې حقونه ........ 20
عمومي ........ 20
د معلوماتو نوره افشا ........ 20
په استماعیه غونډو کې شخصي حقونه ........ 21
د استماعیو مهالویشونه او راحتی ........ 21
د استماعیې غونډې پرېکړې ........ 21
د ALJ پرېکړه ........ 21
د جوړولو بند ........ 21
د قانوني پروسې د استماعیه غونډې بېله غوښتنه ........ 21
د عامو خلکو او مشاورې پلاوي لپاره پرېکړې او موندنې ........ 21
د پرېکړې وروستیوالی؛ استیناف غوښتنه ........ 21
ملکي اقدامات، د هغه مودې په ګډون چې دغه اقدامات پکې درج کیږي ........ 22
عمومي ........ 22
د وخت محدودیت ........ 22
اضافي پروسیجرونه ........ 22
د ودانولو/جوړولو اصول ........ 22
د وکیلانو فیسونه ........ 22
عمومي ........ 22
د فیسونو ورکول ........ 22
د خانګړو زده کړو لپاره د مستحقو زده کوونکو لپاره انضباطي پروسیجرونه ........ 23

د ښوونځي د پرسونل واک ...... 23
مورد پر مورد معلومول ...... 23
عمومي ...... 23
د انضباطي اخراجونو له امله د ځای بدلون ...... 24
خبرتیا ...... 24
خدمتونه ...... 24
د ظاهرېدو ټاکل ...... 24
د دې ټاکل چې چلند د زده کوونکي د معلولیت په سبب و ...... 25
اضافي صلاحیت ...... 25
ځانګړي شرایط ...... 25
تعریفونه ...... 25
د چاپېریال ټاکل ...... 25
د ځای د استیناف/تجدید نظر پرېکړې او ظاهرېدو حل و فصل (انضباط لپاره د قانوني پروسې د استماعیې پروسیجرونه) ...... 26
د قانون د اداري قاضي صلاحیت ...... 26
د قانوني پروسې د ګړندیو استماعیه غونډو په بهیر کې ځای ...... 26
د هغو زده کوونکو لپاره خوندیتوبونه چې لا د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو مستحق نه دي ...... 27
عمومي ...... 27
د انضباطي مسایلو لپاره د پوهنې اساسات ...... 27
استثنا ...... 27
هغه شرایط چې د پوهې د اساساتو د نشتو په صورت کې پلي کېږي ...... 27
د قانون پلي کوونکو او قضایي چارواکو لخوا اقدام او هغو ته ارجاع ...... 28
د سوابقو لېږدول ...... 28
په خصوصي ښوونځیو کې د زده کونکو د والدینو لخوا په عامه لګښت کې د یو اړخیزې ځایګاه اړتیاوې کله چې FAPE په مسله کې شته ...... 28
د خصوصي ښوونځي د ځای لپاره بیا تادیه ...... 28
پر بیا تادیې باندې محدودیتونه ...... 28
سرچینې ...... 37
حقوقي خبرتیا ...... 37

# عمومي معلومات

د معلولیت لرونکو زده کوونکو د زده کړو په تړاو د معلولیت لرونکو زده کوونکو د زده کړې د 2004 قانون (IDEA، Individuals with Disabilities Education Act) له ښوونځي غواړي چې تاسو، د معلولیت لرونکي زده کوونکي والدینو یا د مشکوک معلولیت لرونکي والدینو ته یوه خبرتیا برابره کړي چې ستاسو د IDEA او د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت (U.S. Department of Education) د فدرالي مقرراتو د قانون (CFR، Code of Federal Regulations) له مخې د شته حقونو بشپړ توضیحات وړاندې کوي. د عامه لارښوونو د ناظر دفتر (OSPI، Office of Superintendent of Public Instruction) د ځانګړو زده کړو د چمتو کولو لپاره د دولت مقررات ځاري. دغه مقررات د 392-172A Washington په اداري قانون (WAC، Washington Administrative Code) کې موندل شوي دي. دغه سند د متحده ایالاتو د ښوونې او روزنې ډیپارټمنټ ماډل د *ځانګړو زده کړو پروسیجري خونديتوب له هغې خبرتیا* سره سمون لري چې د 2009 کال په جون میاشت کې بیاکتل شوی ده.

دغه خبرتیا د والدینو، اجاره یي رحم والدینو او بالغو زده کوونکو لپاره ده. "تاسو" یا "والدین" او "ستاسو ماشوم" اصطلاح دغه راز د اجاره يي رحم پر والدینو او بالغو زده کوونکو پلي کيږي. د "ښوونیزې حوزې" یا "حوزې" لپاره په دغې خبرتیا کې راغلو ماخذونو کې د منشور ښوونځي او نورې عامې اداري لکه د ښوونیزو خدمتونو حوزه او د ښوونیزو خدمتونو اداري شاملې دي.

د ځانګړو زده کړو خدمتونو او دغو پروسیجري خونديتوبونو په تړاو اضافي معلومات ستاسو د ښوونځي ځايي حوزه د ځانګړو زده کړو رییس، د ایالت د والدینو د روزنې او معلوماتو مرکز، د څواکمنتیا لپاره د عمل غږونو شراکت (PAVE، Washington Partnerships for Action Voices for Empowerment) یا د OSPI له لارې شتون لري. OSPI [د عامه لارښوونو د ناظر دفتر – ځانګړو زده کړو کې د ځانګړو زده کړو په تړاو یوه ویبپاڼه ساتي](). OSPI ستاسو د ماشوم د ځانګړو زده کړو د پروګرام په اړه د پوښتنو په برخه کې د مرستې لپاره د پروګرام څارونکي او د ځانګړو زده کړو والدین او د ټولنې ارتباطي کسان لري. کولی شئ OSPI، ځانګړو زده کړو ته د 6075-725-360، 3631-664-360 OSPI TTY له لارې یا د [OSPI د ځانګړو زده کړو بریښنالیک]()له لارې اړیکه ونیسئ.

## د پروسیجري خونديتوب خبرتیا
## 34 CFR §300.504; WAC 392-172A-05015

د دغې خبرتیا یوه کاپي باید تاسو ته په هر ښوونیز کال کې او په ابتدايي راجع کېدو سره یا د ارزونې لپاره ستاسو په غوښتنې، په ښوونیز کال کې د حوزې له خوا ستاسو د ځانګړو زده کړو د ټولنې د لومړي شکایت په ترلاسه کولو، په ښوونیز کې د حوزې له خوا ستاسو د لومړۍ قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې په ترلاسه کولو سره یو ځل درکړل شي، کله چې د انضباطي اقدام داسې پریکړه کیږي چې د ځای پر ځای کولو بدلون رامنځته کوي او ستاسو په غوښتنې سره یو ځل درکړل شي.

*د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خونديتوبونو په خبرتیا* کې په دولتي لګښت سره په خصوصي ښوونځي کې ستاسو د ماشوم تر یوه اړخیز ځای پر ځای کولو پورې اړوند د ټولو پروسیجري خونديتوبونو بشپړ توضیحات، د ځانګړو زده کړو د ټولنې د شکایتونو پروسیجرونه، آګاهانه رضایت، هغه *پروسیجري خونديتوبونه* چې د IDEA د B برخې د مقرراتو په E فرعي برخه کې شته او د معلوماتو ورکولو محرمیت چې د IDEA د B برخې د مقرراتو په F فرعي برخه کې شته؛ شامل دي. حوزې کولای شي د دغې خبرتیا کارول غوره کړي یا *والدینو ته د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خونديتوبونو* خپله خبرتیا جوړه کړي.

## له مخکې لیکل شوې خبرتیا
## 34 CFR §300.503; WAC 392-172A-05010

ښوونیزه حوزه مو باید د هغو مهمو پریکړو په تړاو معلومات په لیکلي ډول درکړي چې ستاسو د ماشوم ځانګړو زده کړو پر پروګرام اغیز کوي. دغې ته له مخکې لیکل شوې خبرتیا (Prior Written Notice, PWN) وایي او یو داسې سند دی چې په ناسته کې یا د حوزې په وسیله ستاسو د غوښتنې په ځواب کې نیول شوي تصمیمونه منعکسوي. **له حوزې څخه غوښتل کیږي چې تر پریکړې نیول کېدو وروسته، خو تر پلي کېدو مخکې یې له مخکې لیکل شوې پریکړه درته واستوي.** دغه هغه پریکړې دي چې ستاسو د ماشوم لپاره د وړیا مناسبې دولتي زده کړې (FAPE، free appropriate public education) د معرفي کولو، د هغه ارزولو، پکې د ځای پر ځای کولو یا یې د وړاندې کولو د پیل کولو یا پکې بدلون راوستلو تر وړاندیز یا رد کولو پورې اړوندې دي.

له مخکې لیکل شوې خبرتیا کې باید لاندې موارد شامل وي:

- هغه څه چې حوزه یې د ترسره کولو وړاندیز کوي یا یې ردوي؛
- د حوزې لخوا د اقدام د ترسره کېدو د وړاندیز کولو یا یې ردولو د دلیل په تړاو توضیحات؛
- د انفرادي زده کړې پروګرام (Individualized Education Program, IEP) د ټیم لخوا د نورو هر ډول په پام کې نیول شویو غوراویو یا یادو غوراویو د رد د دلیلونو په تړاو توضیحات؛
- د ارزونې د هر پروسیجر، د ارزونې د سوابقو یا د اقدام لپاره د قاعدې په توګه کارول کېدونکي راپور توضیحات؛

- تر اقدام پورې د نورو هر ډول اړوندو عواملو توضیحات؛
- د ابتدايي ارزوني یا بل هر ډول بیا ارزوني د ترسره کولو لپاره د ارزوني د هر هغه پروسیجر توضیحات چې حوزه یې وړاندیز کوي؛
- هغه بیان چې والدین په دغه کتابګوټي کې د بیان شویو پروسیجري خونديتوبونو په وسیله ساتل کېږي؛
- دا چې تاسو څنګه د ځانګړو زده کړو د *پروسیجري خونديتوبونو د خبرتیا د دغه کتابګوټي یوه کاپي ترلاسه کوئ یا که کومه کاپي درکړل شوې نه وي، نو څنګه د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خونديتوبونو د خبرتیا* د دغه کتابګوټي یوه کاپي شاملوئ؛ او
- پر دغو د پروسیجري خونديتوبونو په پوهېدو کې د مرستې لپاره د اړیکو نیولو په پار ستاسو لپاره سرچیني.

د هغو وختونو بېلګې په لاندې ډول دي چې تاسو به پکې له مخکې لیکل شوې خبرتیا ترلاسه کړئ:
- حوزه غواړي چې ماشوم مو وارزوي یا یې دویم ځلي وارزوي یا دا چې د هغه د ارزونه یا دویم ځلي ارزونه ردوي.
- ستاسو د ماشوم IEP یا ځایګاه به بدله شي.
- تاسو د بدلون غوښتنه کړې وي او حوزه بدلون راوړل ردوي.
- حوزې ته مو لیکلي خبرتیا ورکړې وي چې د ځانګړو زده کړو د ترلاسه کولو په پار مو خپل ماشوم لپاره رضایت لغوه کوئ.

له مخکې لیکل شوې خبرتیا باید په داسې ژبه چمتو شوې وي چې د عامو وګړو لپاره د پوهېدو وړ وي یا باید ستاسو په مورنۍ ژبه یا د اړیکو په بله هغه طریقه چمتو شوې وي چې تاسو یې کاروئ، مګر دا چې دغه کار په صراحت سره د امکان وړ نه وي. که ستاسو مورنۍ ژبه یا د اړیکو بله طریقه لیکلې ژبه نه وي، نو حوزه باید د لاندې مواردو د ډاډمنولو لپاره ګامونه پورته کړي: (1) خبرتیا په شفاهي توګه یا ستاسو په مورنۍ ژبه په بل ډول یا د اړیکو تینګولو په بله طریقه وژباړل شي؛ (2) تاسو د خبرتیا پر منځپانګه پوه وئ؛ او (3) د دې یو لیکلی ثبوت شته وي چې د (1) او (2) شمېرو اړتیاوې پوره شوې دي.

## مورنۍ ژبه
## 34 CFR §300.29; WAC 392-172A-01120

*مورنۍ ژبه*، کله چې د انګلیسي ژبې د زده کوونکي په تړاو کارول کېږي، لاندې معنا لري:
1. د یاد کس لخوا په نورمال ډول کارول کېدونکې ژبه یا، که دغه کس ماشوم وي، نو موخه یې هغه ژبه ده چې د ماشوم د والدینو لخوا په نورمال ډول کارول کېږي.
2. له ماشوم سره په ټولو مستقیمو اړیکو کې (د ماشوم د ارزوني په ګډون) په نورمال ډول د ماشوم لخوا په کور یا ښوونیز چاپېریال کې کارول کېدونکې ژبه.

د داسې کس چې ړوند، کوڼ وي په اورېدو کې ستونزه ولري یا داسې کس په تړاو چې لیکلې ژبه نه لري، د اړیکو تینګولو طریقه هغه یوه ده چې یاد کس یې په نورمال ډول کاروي (لکه د اشارو ژبه، د ړندو کسانو لیک یا شفاهي ارتباط).

## برېښنايي پوست
## 34 CFR §300.505; WAC 392-172A-05020

که ستاسو حوزه والدینو ته د برېښنالیک له لارې د سند د ترلاسه کولو انتخاب وړاندیز کوي، نو تاسو کولای شئ لاندې موارد د برېښنالیک له لارې ترلاسه کړئ:
1. له مخکې لیکل شوې خبرتیا؛
2. *د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خونديتوب خبرتیا؛* او
3. د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې اړونده خبرتیاوې.

## د والدینو رضایت - تعریف
## 34 CFR §300.9; WAC 392-172A-01040

*رضایت لاندې* معنا لري:
1. تاسو په خپله مورنۍ ژبه یا د اړیکو تینګولو په بله طریقې (لکه د اشارو ژبه، د ړندو لیک یا شفاهي ارتباط) سره د هغه اقدام په تړاو د ټولو معلوماتو په اړه بشپړ خبر شوي یاست چې رضایت ورکوئ؛
2. تاسو پر یاد اقدام پوهېږئ او په لیکلو مو موافقت ورسره کړی دی او رضایت یاد اقدامونه تشریح کوي او هغه سوابق (که شته وي) لیست کوي چې خپاره به شي او دا چې چا ته به خپاره شي؛ او
3. دا چې تاسو پوهېږئ چې رضایت مو په خپله برخه داوطلبانه دی او هر وخت یې لغوه کولای (بېرته اخیستی) شئ.

که غواړئ چې خپل رضایت تر هغه وروسته لغوه کړئ چې ماشوم مو د ځانګړو زده کړو د خدمتونو ترلاسه کول پیل کړل، باید په لیکلو

يي لغوه کړئ. ستاسو د رضيات لغوه کول/بېرته اخيستل هغه اقدام نه نفي (لغوه) کوي چې ستاسو تر رضايت ورکولو وروسته او تر اخيستو يې مخکې پيل شوی. سربېره پر دې ښوونيزه حوزه اړ نه ده چې ستاسو د ماشوم ښوونيز سوابق تعديل (بدل) کړي څو مو د ماشوم لخوا د ځانګړو زده کړو د ترلاسه کولو ماخذ لرې کړي.

## د والدينو رضايت – اړتياوې 34 CFR §300.300; WAC 392-172A-02000; WAC 392-172A-03000

### د ابتدايي ارزونې لپاره رضايت ورکول

حوزه مو تر هغه د ماشوم لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو پر شرايطو د برابروالي د معلومولو لپاره ابتدايي ارزونه نه شي ترسره کولای څو داسې له مخکې ليکلي خبرتيا درکړي چې د ارزونې وړانديز شوي فعاليتونه تشريح کوي او ستاسو ليکلی او آګاهانه رضايت ترلاسه کړي. ستاسو ښوونيزه حوزه بايد د ابتدايي ارزونې لپاره ستاسو د آګاهانه رضايت د ترلاسه کولو لپاره معقولې هڅې وکړي څو پرېکړه وکړي چې ايا ماشوم د ځانګړو زده کړو پر شرايطو برابر دی کنه.

د ځانګړو زده کړو لپاره مو د رضايت معنا دا نه ده چې حوزې ته مو د خپل ماشوم لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو د چمتو کولو د پيل کېدو لپاره رضايت ورکړی دی. دغه راز ښوونيزه حوزه بايد ستاسو ماشوم ته د لومړي ځل لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو د چمتو کولو په پار له تاسو رضايت ترلاسه کړي.

که مو ماشوم په دولتي ښوونځي کې شامل وي يا يې په ياد ښوونځي کې شاملوئ او رضايت ورکول مو لغوه کړي يا د ابتدايي ارزونې لپاره د رضايت ورکولو غوښتنې ته په ځواب ورکولو کې پاتې راغلي ياست، که څه هم اړينه نه ده، نو **ښايي** ښوونيزه حوزه مو د منځګړيتوب يا قانوني پروسې د استماعيه غونډې د پروسيجرونو- څنګه چې وروسته په دغه خبرتيا کې تشريح شوي- په کارولو سره ستاسو د رضايت ترلاسه کولو هڅه وکړي. حوزه به مو د ماشوم د موندلو، پېژندلو او ارزولو لپاره له خپلو مکلفيتونو سرغړونه ونه کړي، که انتخابوي چې په دغه ډول شرايطو کې ستاسو د ماشوم ارزونه پر مخ بوزي.

### تر ايالتي پاملرنې لاندې ماشوم د ابتدايي ارزونې لپاره ځانګړې قاعده

که ستاسو ماشوم تر ايالتي پاملرنې لاندې ماشوم وي او له تاسو سره ژوند نه کوي، نو ښوونيزه حوزه د ابتدايي ارزونې په پار د دې معلومولو لپاره ستاسو رضايت ته اړتيا نه لري چې آيا ستاسو ماشوم د ځانګړو زده کړو پر شرايطو برابر دی کنه، که:

1. د دغه کار ترسره کولو لپاره پر معقولو هڅو سربېره حوزه مو نه شي پيدا کولی؛
2. د ايالتي قانون له مخې مو د والدينو په توګه حقونه پای ته رسېدلي؛ يا
3. يوه قاضي له تاسو پرته بل ته د ښوونيزو پرېکړو کولو حق سپارلی او هغه کس د ابتدايي ارزونې لپاره رضايت ورکړی دی.

*تر ايالتي پاملرنې لاندې ماشوم،* څه ډول چې په IDEA کې کارول کېږي، لاندې ډول کس دی:

1. داسې تر روزنې لاندې ماشوم دی چې له روزونکو والدينو سره نه دی ځای پر ځای شوی؛
2. د واشنګټن د قانون له مخې تر ايالتي پاملرنې لاندې ماشوم په توګه ګڼل شوی؛ يا
3. د ماشومانو، ځوانانو او کورنيو (Department of Children, Youth, and Families) يا د بل ايالت د ماشومانو د فلاح عامه ادارې په سرپرستۍ کې وي.

*تر ايالتي پاملرنې لاندې ماشوم* کې داسې تر روزنې لاندې ماشوم نه دی شامل چې روزونکي والدين لري.

### د ابتدايي خدمتونو لپاره د والدينو رضايت او د ادامې لرونکو خدمتونو لپاره د رضايت ردول

ښوونيزه حوزه مو بايد ستاسو د آګاهانه ليکلي رضايت د ترلاسه کولو لپاره معقولې هڅې وکړي او ماشوم ته مو <u>د لومړي ځل لپاره</u> د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو تر چمتو کولو مخکې ستاسو آګاهانه ليکلي رضايت ترلاسه کړي.

که تاسو ماشوم ته مو د لومړي ځل لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره د خپل رضايت ورکولو غوښتنې ته ځواب ونه وايئ يا که دغه ډول رضايت له ورکولو څخه انکار کوئ، نو حوزه مو ممکن د منځګړيتوب پروسيجرونه <u>ونه کاروي</u> چې په دې ترتيب ستاسو د موافقې ترلاسه کولو هڅه وکړئ يا مو د ماشوم لپاره د ځانګړو زده کړو او اړوند خدمتونو د چمتو کولو لپاره د اداري قانون له قاضي څخه د حکم ترلاسه کولو په پار د قانوني پروسې له استماعيه غونډې څخه کار واخلئ.

که تاسو ماشوم ته مو د لومړي ځل لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره خپل رضايت نه ورکوئ يا د رضايت ورکولو غوښتنې ته ځواب نه وايئ، نو ښوونيزه حوزه مو ممکن ماشوم ته ځانګړې زده کړې او اړونده خدمتونه چمتو نه کړي. په دغو شرايطو کې ستاسو ښوونيزه حوزه:

1. ستاسو ماشوم ته د وړیا مناسبې زده کړې (FAPE) د رامنځته کولو له اړتیا څخه سرغړونه نه کوي، ځکه چې د یادو خدمتونو په چمتو کولو کې پاتې راغلي ده؛ او
2. نه ترې غوښتل کېږي چې ماشوم ته مو د هغه ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو لپاره د IEP ناسته ولري یا یې رامنځته کړي چې په پار یې ستاسو رضایت غوښتل شوی و.

کله چې د خپل ماشوم لپاره د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو د ترلاسه کولو په پار لیکلی رضایت ورکړئ او حوزه ځانګړو زده کړو د خدمتونو په چمتو کولو پیل وکړي، نو ماشوم به مو تر هغه د ځانګړو زده کړو د خدمتونو د ترلاسه کولو پر شرایطو برابر پاتې شي:
1. چې بیا وارزول شي او دا ومومندل شي چې تر دې وروسته د ځانګړو زده کړو لپاره وړ نه دی؛
2. چې عالي ښوونځی په منظمې شهادتنامې سره فارغ شي؛
3. چې 21 کلنۍ عمر ته ورسېږي (یا که مو ماشوم د اګست تر 31مې نېټې وروسته 21 کلنۍ ته اوړي، نو د ښوونیز کال تر پایه پر شرایطو برابر پاتې کېږي)؛ یا
4. تاسو د ځانګړې زده کړې د خدمتونو د دومداره چمتو کولو لپاره په لیکلي بڼه ناحیې ته د خپل رضایت لغوه کولو درخواست وکړئ.

که تاسو د حوزې د ځانګړو زده کړو د خدمتونو تر پیلېدو وروسته د ادامه لرونکو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره خپل رضایت په لیکلي ډول رد کړئ، نو حوزه باید معقول وخت وړاندې له مخکې *لیکل شوې خبرتیا* درکړي چې دغه خبرتیا ماشوم ته مو د ځانګړو زده کړو د خدمتونو چمتو کول ودروي. له مخکې لیکل شوې خبرتیا کې به هغه نېټه شامله شي چې حوزه به مو ماشوم ته پرې د خدمتونو چمتو کول ودروي او خبر به مو کړي چې ښوونیزه حوزه:
1. ستاسو ماشوم ته د وړیا مناسبې زده کړې (FAPE) د رامنځته کولو له اړتیا څخه سرغړونه نه کوي، ځکه چې د یادو خدمتونو په چمتو کولو کې پاتې راغلي ده؛ او
2. نه ترې غوښتل کېږي چې ماشوم ته مو د هغه ځانګړو زده کړو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د IEP ناسته ولري یا یې رامنځته کړي.

یوه حوزه ممکن ستاسو د لیکلي لغوې د نفې لپاره قانوني پروسه ونه کاروي یا مو ماشوم ته د ځانګړو زده کړو د خدمتونو چمتو کولو ته د ادامې لپاره ستاسو د موافقې ترلاسه کولو لپاره د منځګړیتوب پروسیجرونه ونه کاروي. وروسته تر دې چې حوزه ستاسو ماشوم ته د ځانګړو زده کړو د خدمتونو چمتو کول ودروي، نو ماشوم نور د ځانګړو زده کړو د خدمتونو پر شرایطو برابر نه ګڼل کېږي او د هغو ورته اړتیاوو تابع دی چې پر تولو زده کوونکو پلي کېږي. تاسو یا نور هغه کسان چې له ماشوم سره مو اشنا دي، د ښوونیزې حوزې په ګډون، هر وخت وروسته تر دې چې خپل ماشوم ته د ځانګړو زده کړو ترلاسه کولو رضایت رد کړئ؛ ماشوم د ابتدایي ارزونې لپاره یې راجع کولی شئ.

## د بیا ارزولو لپاره د والدینو رضایت

که مو د ماشوم د بیا ارزولو د برخې په توګه باید نوې ازموینه ترسره شي، حوزه ستاسو د ماشوم تر ارزولو مخکې باید ستاسو آګاهانه رضایت ترلاسه کړي، مګر دا چې حوزه ښودلی شي چې:
1. ستاسو د ماشوم د بیا ارزولو لپاره یې ستاسو د رضایت د ترلاسه کولو په پار مناسب ګامونه اخیستي دي؛ او
2. تاسو ځواب نه دی ورکړی.

که تاسو د خپل ماشوم د بیا ارزونې د یوې برخې په توګه نوې ازموینې ته د رضایت له ورکولو څخه ډډه کوئ، حوزه ښايي، خو اړ نه ده چې ستاسو د ماشوم بیا ارزونې ته د منځګړیتوب د پروسیجرونو په کارولو سره ادامه ورکړي څو له تاسو څخه موافقه وغواړي یا ستاسو د ماشوم د بیا ارزولو لپاره ستاسو د زضایت نه ورکولو د نفې لپاره د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونه وکاروي. د ابتدایي ارزونې په څېر مو حوزه IDEA د B د برخې له مخې له خپلو مکلفیتونو څخه سرغړونه نه کوي، که د منځګړیتوب یا قانوني پروسې د پروسیجرونو په کارولو سره د بیا ارزولو ادامه لغوه کوي.

## د والدینو رضایت ترلاسه کولو لپاره د معقولو هڅو اسناد

ښوونځی مو باید د ابتدايي ارزونو لپاره ستاسو د رضایت ترلاسه کولو، د لومړي ځل لپاره د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو، داسې نوې بیا ارزونه ترسره کول چې نوې ازموینه پکې شامله وي او د ابتدايي اروزنو لپاره تر ایالتي پاملرنې لاندې ماشومانو د والدینو د مونډلو په پار د معقولو هڅو اسناد وساتي. په اسنادو کې باید په دغو برخو کې د حوزې د هڅو سوابق شامل وي لکه:
1. د وهل شویو یا د ازمویل شویو ټلیفوني زنګونو تفصیلي سوابق او د یادو زنګونو پايلې؛
2. تاسو ته د لېږل شویو لیکونو او هر ډول ترلاسه شویو ځوابونو کاپي ګانې؛ او
3. ستاسو له کور یا کار څخه د لیدنو تفصیلي سوابق او د دغو لیدنو پایلې.

## د رضایت نور معلومات

رضایت مو تر دې مخکې اړین نه دی څو چې حوزه کېدای شي:
1. ستاسو د ماشوم د ارزونې یا بیا ارزونې د یوې برخې په توګه شته معلومات بیا وګوري؛ یا

2. مو ماشوم ته یوه ازموینه یا بله داسي ارزونه ورکړي ټولو زده کوونکو ته ورکول کېږي، مګر دا چې د یادې ازموینې یا ارزونې تر ورکول کېدو مخکې د ټولو زده کوونکو له والدینو څخه رضایت اخیستل اړین وي.

که مو خپل ماشوم په شخصي ښوونځي کې په خپل لګښت شامل کړی وي یا مو ماشوم په کور کې زده کړې کوئ او د خپل ماشوم د ابتدايي ارزونې یا بیا ارزونې لپاره خپل رضایت نه ورکوئ یا د رضایت چمتو کولو غوښتنې ته په ځواب ورکولو کې پاتې راځئ، نو حوزه ممکن ستاسو د موافقتنامې د ترلاسه کولو لپاره د منځګړیتوب پروسیجرونه ونه کاروي یا ستاسو د لغوې د نفې کولو لپاره د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونه ونه کاروي. دغه راز حوزه اړ نه ده چې ماشوم مو د خصوصي ښوونځې د مساوي خدمتونو د ترلاسه کولو پر شرایطو برابر وګڼي چې دا هغه خدمتونه دي چې په خصوصي ښوونځي کې د والدینو لخوا ځای پر ځای شویو د ځانګړو زده کړو پر شرایطو برابرو زده کوونکو لپاره شته وي.

# خپلواکې ښوونیزې ارزونې
# 34 CFR §300.502; WAC 392-172A-05005

که تاسو د حوزې لخوا له ترسره شوې ارزونې سره مخالفت کوئ، نو حق لرئ چې د خپل ماشوم خپلواکه ښوونیزه ارزونه ( IEE، independent educational evaluation) ترلاسه کړئ. که د یوې IEE غوښتنه کوئ، نو حوزه باید د هغه ځای په هکله معلومات درکړي چې IEE مو پکې ترلاسه کړی او پر IEE باندې د حوزې پلې کېدونکو معیارونو په تړاو معلومات درکړي.

## تعریفونه

- *خپلواکه ښوونیزه ارزونه (IEE)* د یوه داسي وړ ارزوونکي لخوا د ترسره شوې ارزونې معنا لري چې ستاسو د ماشوم د زده کړې لپاره د مسوولې حوزې لخوا نه وي ګومارل شوی.
- *د عامه/دولتي لګښتونو* معنا دا ده چې حوزه یا د ارزونې بشپړ لګښت ورکوي یا ډاډ ورکوي چې ارزونه په بل ډول تاسو ته په وړیا ډول چمتو کېږي.

## په عامه لګښتونو سره د IEE د ترسره کولو لپاره د والدینو حق

که تاسو د حوزې لخوا له ترسره شوې ارزونې سره مخالفت کوئ، نو حق لرئ چې د خپل ماشوم IEE په عامه لګښت په لاندې شرایطو سره ترسره کړئ:

1. که تاسو په عامه لګښت کې د خپل ماشوم د IEE غوښتنه وکړئ، نو ښوونیزه حوزه باید ستاسو د غوښتنې په 15 تقویمي ورځو کې **یا:** (الف) د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړي څو وښیي چې د حوزې لخوا مو د ماشوم دغه ارزونه مناسبه ده یا دا چې ستاسو د ماشوم هغه ارزونه چې تاسو ترلاسه کړې د حوزې معیارونه نه دي پوره کړي؛ **یا** (ب) په عامه لګښت د IEE چمتو کولو موافقه ده.
2. که مو ښوونیزه حوزه د یوې قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه وکړي او وروستۍ پرېکړه دا وي چې ستاسو د ماشوم په اړه د حوزې ارزونه مناسبه ده، نو تاسو لاهم د IEE حق لرئ، خو په عامه لګښت نه.
3. که د خپل ماشوم د IEE غوښتنه کوئ، نو ښوونیزه حوزه ممکن پوښتنه وکړي چې ولې تاسو د حوزې لخوا پر ترسره شوې ارزونې اعتراض کوئ. که څه هم حوزه ممکن توضیح ونه غواړي او ممکن په غیر معقول ډول ستاسو د ماشوم IEE په عامه لګښت سره په چمتو کولو کې ځنډ رانه ولي یا مو د ماشوم په اړه د حوزې د ارزونې د دفاع لپاره د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړي.

هر ځل چې ښوونیزه حوزې ستاسو د ماشوم داسي ارزونه ترسره کوي چې ورسره موافق نه یاست، نو تاسو حق لرئ په عامه لګښت سره د خپل ماشوم د یوه IEE د ترسره کولو غوښتنه وکړئ.

## د والدینو لخوا پیل شوې ارزونې

که تاسو د خپل ماشوم IEE په عامه لګښت ترلاسه کوئ یا حوزې ته په شخصي لګښت ترلاسه شوې IEE چمتو کوئ نو:

1. حوزه مو باید د IEE پایلې ستاسو ماشوم ته د FAPE وړاندې کولو ته په پام سره د هرې پرېکړې لپاره په پام کې ونیسي، که د IEE لپاره د حوزې معیارونه پوره کوي؛ او
2. تاسو یا مو حوزه IEE ستاسو د ماشوم په هکله د قانوني پروسې په استماعیه غونډه کې د ثبوت په توګه وړاندې کړي.

## د قانون د اداري قاضیانو (ALJ، Administrative Law Judges) لخوا د ارزونو لپاره غوښتنې

که یو ALJ د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د یوې برخې په توګه ستاسو د ماشوم د یوې IEE غوښتنه کوي، نو د ارزونې لګښت باید پر عامه لګښت وي.

## د حوزې معیارونه

که IEE په عامه لګښت سره وي، د ازونې د موقعیت او د ارزوونکي د وړتیاوو په ګډون هغه معیارونه چې له مخې یې ارزونه ترلاسه

کېږي، باید له هغو معیارونو سره ورته وي چې حوزه یې د ارزونې د پیلولو پر مهال کاروي (تر هغه حده چې معیارونه ستاسو د IEE له حق سره مطابقت ولري).

حوزه ممکن له پورته تشریح شوي مورد پرته په عامه لګښت سره د IEE له ترلاسه کولو اړوند شرایط یا مهالوېشونه وضع نه کړي.

## د معلوماتو محرمیت تعریفونه
## 34 CFR §300.611; WAC 392-172A-05180

IDEA ستاسو د ماشوم د ځانګړو زده کړو د سوابقو په تړاو حقونه درکوي. یاد حقونه پر هغو سربېره شته دي چې تاسو یې د کورنۍ د زده کړې د حقونو او خصوصي حریم د قانون (FERPA، Family Educational Rights and Privacy Act) له مخې لرئ چې دغه ټولو زده کوونکو ته د ښوونیزو سوابقو محافظتونه ورکوي.

لاندې موارد چې څنګه د *معلوماتو د محرمیت تر* سرلیک لاندې کارول کېږي، لاندې معناوې لري:

- *ویجاړول/له منځه وړل د فزیکي* ویجاړولو یا له معلوماتو څخه د شخصي معرفي کوونکو واردو لرې کولو معنا لري چې په دې ترتیب معلومات نور شخصي معرفي کوونکي نه وي.
- *ښوونیز/د زده کړې* سوابق د هغو سوابقو د ډول معنا لري چې د 34 CFR په 99 برخه کې "ښوونیزو سوابقو" د تعریف له مخې پوښل شوي (هغه مقررات چې د 1974 د کورنۍ د زده کړو د حقونو او خصوصي حریم قانون پلي کوي، 20 د متحده ایالاتو قانون (FERPA) 1232g (United States Code, U.S.C)).
- *برخه اخیستونکي اداره* د هرې ښوونیزې حوزې، اداره یا موسسې معنا لري چې شخصي معرفي کوونکي معلومات را ټولوي، ساتي یا یې کاروي یا د B برخې یا IDEA له مخې ترې معلومات ترلاسه کېږي.

## شخصي معرفي کوونکي موارد
## 34 CFR §300.32; WAC 392-172A-01140

*شخصي معرفي کوونکي موارد* د هغو معلوماتو معنا لري چې:

1. ستاسو د ماشوم نوم، د والدینو په توګه ستاسو نوم یا د کورنۍ د بل غړي نوم لري؛
2. ستاسو د ماشوم پته لري؛
3. یو شخصي معرفي کوونکی مورد لکه ستاسو د ماشوم د ټولنیز امنیت شمېره یا د زده کوونکي شمېره؛ یا
4. د شخصي ځانګړنو لېست یا نور داسې معلومات چې په معقول ډاډ سره مو د ماشوم معرفي ممکنوي.

## والدینو ته خبرتیا
## 34 CFR §300.612; WAC 392-172A-05185

OSPI د خپلو مقرراتو له لارې خبرتیا درکوي چې تاسو ته د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو د محرمیت په اړه بشپړ معلومات درکړي، د لاندې موادرو په ګډون:

1. د ماډل ایالتي فورمو شتون، *د ځانګړو زده کړو د پروسیجري خونديتوب خبرتیا په ګډون* په څو ژبو او د غوښتنې په صورت کې بدیل فارمټ کې شته؛
2. د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو هغه توضیحات چې د OSPI لخوا د دولتي شکایتونو، قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنو او پرېکړو، نظارت، د خوندیتوب خالص غوښتنلیکونه، د منځګړیتوب ترونونه او د ارزونې د مرستې فعالیت له لارې راټول شوي او ساتل کېږي. شخصي معرفي کوونکي معلومات مخکې تر دې لرې کېږي چې دغه معلومات له نورو ادارو یا غوښتونکو کسانو سره شریک شي، مګر دا چې والدین یا بالغ زده کوونکي د معلوماتو خپرولو لپاره رضایت ورکړي؛
3. د هغو پالیسیو او پروسیجرونو لنډیز چې حوزه یې باید د ذخیره کولو، درېیمې ډلې ته افشا کولو، د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو د ساتلو او له منځه وړلو په تړاو تعقیب کړي؛ او
4. د دغو معلوماتو په اړه د والدینو او زده کوونکو د ټولو حقونو توضیحات، د کورنۍ د زده کړې د حقونو او خصوصي حریم قانون (FERPA) او د 34 CFR په 99 برخه د هغې پلي کېدونکو مقرراتو له مخې د شته حقونه.

د ایالت پر کچه د پېژندنې، موقعیت یا ارزونې تر هر ډول لوی فعالیت مخکې باید (د "ماشوم موندنه" په نامه هم پېژندل کېږي) یوه خبرتیا په ورځپاڼو کې خپره شي یا په نورو رسنیو کې اعلان شي یا دواړه کارونه وشي، د فعالیت په ټول حالت کې والدینو ته د خبرتیا لپاره په کافي انتشار سره څو ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو ته اړمن ماشومان وموندل شي، وپېژندل شي او وارزول شي.

## د لاسرسي حقونه
## 34 CFR §300.613-617; WAC 392-172A-05190–05210

تاسو حق لرئ چې د خپل ماشوم د زده کړې هغه سوابق وڅیړئ او بیا یې وګورئ چې د IDEA د B برخې له مخې ستاسو د ښوونیزې حوزې لخوا را ټولیږي، ساتل کیږي یا کارول کیږي. حوزه باید له نا اړین ځنډ پرته او د IEP په اړه تر هر ډول غونډې مخکې ستاسو د ماشوم په اړه هر ډول ښوونیزو سوابقو یا د هر ډول بې پرې قانوني پروسې استماعیه غونډې (د انضباط په تړاو د پریکړه لیک یا د ځانګړو زده کړو د قانوني پروسې د استماعیه بې پرې غونډې په ګډون) د پلټلو او بیاکتنې لپاره ستاسو له غوښتنې سره سمون ولري او ستاسو تر غوښتنې وروسته په هیڅ حالت کې تر 45 تقویمي ورځو ډېر وروسته نه وي.

د ښوونیزو سوابقو د پلټلو او بیاکتنې لپاره ستاسو په حق کې لاندې موارد شامل دي:

1. د سوابقو په هکله د توضیحاتو او تفسیرونو لپاره ستاسو د معقولې غوښتنې په پار له حوزې څخه ځواب ته ستاسو حق؛
2. ستاسو د دې غوښتنې حق چې ښوونیزه حوزه سوابقو کاپي چمتو کړي، که تاسو نه شئ کولای په اغېزناکه توګه سوابق وپلټئ او بیا یې وګورئ، مګر داچې نوموړي کاپي ترلاسه کړئ؛ او
3. له خپل استازي څخه د سوابقو د پلټلو او بیاکتلو د غوښتنې حق.

حوزه به فرض کړي چې تاسو واک لرئ چې د خپل ماشوم په اړه سوابق وپلټئ او بیاکتنه یې وکړئ، مګر دا چې وویل شي چې د ایالت د هغه نافذه قانون له مخې واک نه لرئ چې د سرپرستۍ، جلا کیدو او طلاق په څیر مسلې اداره کوي.

### د لاسرسي سوابق

ښوونیزه حوزه باید د هغو اړخونو سوابق وساتي چې د IDEA د B برخې له مخې را ټول شویو، ساتل شویو یا کارول شویو ښوونیزو سوابقو ته لاسرسی ترلاسه کوي، د اړخ د نامه، د لاسرسي ورکولو نېټې او هغه موخې په ګډون چې په پار یې اړخ د سوابقو د کارولو واک لري. ښوونیزې حوزې اړ نه دي چې د والدینو یا د ښوونیزې حوزې د مجازو کارکوونکو لپاره د لاسرسي دغه سوابق وساتي.

### تر یوه ډېرو ماشومانو په هکله سوابق

که په کومو ښوونیزو سوابقو کې تر یوه ډېرو زده کوونکو په اړه معلومات شامل وي، نو تاسو حق لرئ چې یوازې تر خپل ماشوم پورې اړوند معلومات وپلټئ او بیاکتنه یې وکړئ یا د دغو معلوماتو په اړه خبر و اوسئ، که حوزه ونه شي کولی تاسو ته دغه معلومات د بل زده کوونکي په اړه د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو له څرګندولو پرته ښکاره کړي.

### د معلوماتو د ډولونو او د هغه د موقعیتونو لېست

ښوونیزه حوزه باید تاسو ته د هغو ښوونیزو سوابقو د ډولونو او موقعیتونو لېست درکړي چې د ښوونیزې حوزې لخوا را ټولیږي، ساتل کیږي یا کارول کیږي، که یې غوښتنه وکړئ.

### فیسونه

ښوونیزه حوزه ممکن د هغو سوابقو د کاپیو فیس واخلي چې د IDEA د B برخې له مخې ستاسو لپاره جوړ شوي، که فیس تاسو په اغېزمنه توګه د دغو سوابقو د پلټلو او بیاکتنې په تړاو ستاسو د حق د کارولو مخه ونه نیسي. حوزه ممکن د IDEA له مخې د معلوماتو د لټون یا ترلاسه کولو په پار فیس وا نه خلي.

## د والدینو په غوښتنې سره د سوابقو تعدیل کول
## 34 CFR §300.618–§300.621; WAC 392-172A-05215

که باور لرئ چې ستاسو د ماشوم په اړه په ښوونیزو سوابقو کې معلومات د IDEA لخوا په ناسمه یا اغوا کوونکې توګه ټول شوي، ساتل شوي یا کارول شوي او یا ستاسو د ماشوم د محرمیت یا نورو قوانینو سرغړونه یې کړې، نو له ښوونیزې حوزې د معلوماتو د بدلولو غوښتنه کولای شئ.

ښوونیزه حوزه باید پرېکړه وکړي چې ایا ستاسو په غوښتنه ستاسو د غوښتنې له ترلاسه کولو وروسته په یوه معقوله موده معلومات بدل کړي که نه.

### د استماعیه غونډې د غوښتلو فرصت، د استماعیه غونډې پروسیجر او د استماعیه غونډې د غوښتلو پایلې

که ستاسو ښوونیزه حوزه ستاسو په غوښتنه د معلوماتو له بدلولو ډډه وکړي، باید له دغې پرېکړې تاسو ته خبر درکړي او درته ووایي چې تاسو د حوزې پر وړاندې د استماعیه غونډې غوښتلو حق لرئ.

تاسو د دې حق لرئ چې د خپل ماشوم په ښوونیزو سوابقو کې د معلوماتو بدلولو لپاره د استماعیه غونډې غوښتنه وکړئ او داډ ترلاسه کړئ چې دا معلومات ناسم او اغوا کوونکي نه دي یا ستاسو د ماشوم د محرمیت یا نورو حقونو په اړه سرغړونه نه ده پکې شوې. په ښوونیزو سوابقو کې د معلوماتو د ننګولو لپاره استماعیه غونډې غوښتل باید تر FERPA لاندې د حوزې د استماعیې د پروسیجر له مخې ترسره شي. دا د ځانګړو زده کړو استماعیه غونډه نه ده.

که د استماعیې په پایله کې حوزه پرېکړه وکړي چې معلومات ناسم، اغوا کوونکي یا د زده کوونکي د محرمیت یا نورو حقونو پر خلاف دي، باید معلومات بدل کړي او تاسو ته د دغو بدلونونو په اړه په لیکلي بڼه ووايي.

که د استماعیې په پایله کې حوزه پرېکړه وکړي چې معلومات ناسم، اغوا کوونکي یا ستاسو د ماشوم د محرمیت یا نورو حقونو پر خلاف نه دي، نو دوی باید تاسو ته ستاسو د دې حق په اړه ووايي چې کولی شئ د خپل ماشوم په ښوونیزو سوابقو کې یو بیان کېږدئ او د معلوماتو په اړه پکې نظر ورکړئ یا یو دلیل وړاندې کړئ چې ولې د حوزې له پرېکړې سره موافق نه یئ.

که غوره کړئ چې د خپل ماشوم په سوابقو کې یو بیان کېږدئ، دا بیان باید:

1. ستاسو د ماشوم د سوابقو د یوې برخې په توګه د حوزې لخوا تر هغه وساتل شي چې سوابق یا د سوابقو ننګول شوې برخه ساتل کېږي؛ او
2. که حوزه ستاسو د ماشوم معلومات یا یې ننګول شوې برخه کوم بل لوري ته افشا کړي، باید بیان هم ورسره ورکړي.

# د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو د افشا لپاره رضایت
# 34 CFR §300.622; WAC 392-172A-05225

وړاندې له دې چې شخصي معرفي کوونکي معلومات نورو ته افشا شي، باید ستاسو لیکلی رضایت واخیستل شي؛ مګر دا چې د FERPA له مخې ستاسو د ماشوم د ښوونیزو سوابقو د افشا کېدونکي برخې د افشا لپاره د والدینو رضایت ته اړتیا نه وي. په ټوله کې، د ګډونوالو ادارو چارواکو ته د ناستې د IDEA د B برخې الزاماتو پوره کولو لپاره د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو تر خپرولو وړاندې ستاسو رضایت ته اړتیا نشته. که څه هم په هغه صورت کې چې معرفي کوونکي معلومات د ګډونوالو ادارو مقاماتو، چې د لېږد خدمتونه وړاندې کوي یا یې تادیه کوي، ته خپرېږي؛ ستاسو یا مو که ماشوم د بلوغ سن ته رسېدلی وي، د هغه رضایت اخیستل اړین دي. پر دې سربېره، که ستاسو ماشوم شخصي ښوونځي ته ځي، وړاندې له دې چې ستاسو د ماشوم په اړه کوم معرفي کوونکي معلومات د هغې حوزې د چارواکو تر منځ چې دغه خصوصي ښوونځی پکې دی او هغې حوزې د چارواکو ترمنځ خپرېږي چې ماشوم مو هلته ژوند کوي او تاسو نه غواړئ چې ماشوم مو د خپلې اوسېدو سیمې حوزې په ښوونځي کې شامل کړئ، باید ستاسو رضایت واخیستل شي.

# د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو لپاره خوندیتوبونه
# 34 CFR §300.623; WAC 392-172A-05230

ستاسو ښوونیزه حوزه باید د ټولولو، ذخیره کولو، افشا او تخریب په پړاوونو کې د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو محرمیت وساتي. په ښوونیزه حوزه کې یو چارواکی باید د شخصي معرفي کوونکو معلوماتو د محرمیت ساتلو مسولیت واخلي. ټول هغه کسان چې شخصي معرفي کوونکي معلومات ټولي، باید د IDEA د B برخې او FERPA له مخې د محرمیت په اړه روزنه او لارښوونې ترلاسه کړي.

هره ښوونیزه حوزه باید د عامه څار لپاره په اداره کې د هغو کارکوونکو د نومونو او دندو اوسنی لیست وساتي چې ښايي شخصي معرفي کوونکي معلوماتو ته لاسرسی ولري.

# د معلوماتو تخریب، ساتنه او ذخیره
# 34 CFR §300.624; WAC 392-172A-05235

که ستاسو ماشوم ته د ښوونیزو خدمتونو وړاندې کولو لپاره ټولو شویو، ساتل شویو او کارول شویو شخصي معرفي کوونکو معلوماتو ته اړتیا نه وي، ستاسو د ښوونځي ښوونیزه حوزه باید تاسو ته خبر ورکړي.

که نوره اړتیا ورته نه وي، نو معلومات باید ستاسو په غوښتنه له منځه لاړ شي. سره له دې ښايي ستاسو د ماشوم د نوم، پتې، ټلیفون شمېرې، نمرو، حاضرۍ، ټولګیو، بشپړې کړې کچې او بشپړ کړي کال په اړه معلوماتو سوابق له کوم زماني محدودیت پرته وساتل شي.

د سوابقو د ساتلو په اړه ایالتي قانون د واشنګټن تجدید نظر شوی قانون (Revised Code of Washington, RCW) په 40.14 څپرکي کې شته. دا پروسیجرونه چې یوه ښوونیزه حوزه باید سوابق تر څه وخته وساتي، د واشنګټن بهرنیو چارو وزارت (Washington Secretary of State)، د ارشیفونو او سوابقو مدیریت څانګې لخوا خپاره شوي.

# د ځانګړو زده کړو د شخړو د حل پروسیجر

تاسو مو د ماشوم د ځانګړي زده‌کړې پروګرام په ټولو برخو کې یو مهم ګډونوال یئ. دا ګډون یا ښکېلتیا ستاسو د ماشوم له لومړني ارجاع کولو سره پیلېږي. تاسو او ستاسو ښوونیزه حوزه هڅول کېږئ چې یو ځای کار وکړئ او د هغو اختلافاتو د حل هڅه وکړئ چې ستاسو د ماشوم د ځانګړو زده کړو پر پروګرام اغېز کوي. کله چې تاسو او ستاسو د ښوونځي ښوونیزه حوزه دا اختلافات حل نه شئ کړی، د شخړو د حل لپاره نور رسمي انتخابونه شته. دا انتخابونه منځګړیتوب، د ټولنې شکایتونه او د استماعیې بې پرې او قانوني پروسه ده.

# منځګړیتوب

# 34 CFR § 300.506; WAC 392-172A-05060–05075

### عمومي

د منځګړیتوب خدمتونه ستاسو لپاره په وړیا ډول شته دي یا حوزه د پېژندنې، ارزونې، ښوونیزې ځایګاه او ماشوم ته مو د FAPE وړاندې کولو په ګډون د ستونزو په حل کې مرسته کوي او هغه مهال چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه شوې وي.
منځګړیتوب داوطلبانه دی او ستاسو د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د حق د منع کولو یا ځنډولو یا دغه راز د IDEA د B برخې له مخې تاسو ته د درکړل شویو حقونو د منع کولو لپاره نه شي کارول کېدای. د منځګړیتوب جلسې په زماني نظم سره په داسې موقعیت کې مهالوېش کېږي چې تاسو او حوزې ته اسانه وي.

که مو لومړنۍ ژبه انګلیسي نه وي یا د اړیکو ټینګولو بله طریقه کاروئ، نو د غوښتنې په صورت کې منځګړیتوب شته، مګر دا چې دغه کار کول په صراحت سره امکان ونه لري.

ښوونیزه حوزه ښايي داسې پروسیجرونه رامنځته کړي چې هغو والدینو ته په هر وخت او ستاسو لپاره په اسانه موقعیت کې له لاندې نا لېواله اړخ سره د لیدلو فرصت ورکوي چې د منځګړیتوب نه کارول انتخابوي:

1. څوک چې د شخړو د حل لپاره له مناسبې بدیلې اداري یا د والدینو د روزنې او معلوماتو مرکز یا په ایالت کې د ټولنې د والدینو د سرچینو له مرکز سره د تړون لاندې وي؛ او
2. څوک چې ګټې تشریح کړي او ستاسو لپاره د منځګړیتوب د پروسې کارونه وهڅوي؟

### د منځګړي کس بې پرې والی

منځګړیتوب د وړ، بې طرفه او د منځګړیتوب په اغېزناکو تخنیکونو کې د روزل شوي کس لخوا ترسره کېږي. دغه راز باید منځګړی د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو تر وړاندې کولو اړونده قانون او مقرراتو په برخه کې پوهه ولري. OSPI د منځګړیتوب د ترسره کولو لپاره له بهرنۍ اداري سره قرارداد کوي. اداره د منځګړو کسانو لېست ساتي. منځګړي کسان په تصادفي، دوره یي یا بل ډول بې پرېتوب سره ځانګړي کېږي. منځګړی (1) ممکن د OSPI، حوزې یا بلې داسې اداري کارکوونکی نه وي چې هغه ماشوم ته مستقیم خدمتونه وړاندې کوي چې د منځګړیتوب تر پروسې لاندې وي او (2) ممکن د ګټو شخصي یا مسلکي ټکر ونه لري. د منځګړیتوب جلسې په زماني نظم سره په داسې موقعیت کې مهالوېش کېږي چې تاسو او حوزې ته اسانه وي.

### په منځګړیتوب کې لاسته راغلي موافقې

که تاسو او حوزه یوې موافقې ته ورسېږئ، باید د منځګړیتوب په داسې لیکلي موافقه کې مستند شي چې ستاسو او د حوزې د داسې استازي لخوا لاسلیک شوی وي چې په قانوني توګه پابندې موافقې ته د ننوتلو واک لري. د منځګړیتوب د غونډو په بهیر کې شوي بحثونه محرم دي او په هرې فدرالي محکمه یا د واشنګټن ایالت په محکمه کې د قانوني پروسې په استماعیه غونډه یا مدني اقداماتو کې د شواهدو په توګه نه شي کارول کېدی. دغه خبره باید په لیکلې موافقه کې بیان شي. که څه هم د منځګړیتوب موافقه په خپله د ثبوت په توګه کارول کېدی شي. د منځګړیتوب موافقې په قانوني توګه د ذیصلاح قضایي حوزې په هره محکمه کې یا د متحده ایالاتو د حوزې په محکمه کې الزامي او د پلي کېدو وړ دي.

# د ځانګړو زده کړو د ټولنې د شکایتونو د څېړنو/تحقیقاتو او قانوني پروسې د استماعیه غونډو تر منځ توپیر

د IDEA د B برخې لپاره مقررات د دولتي شکایتونو (د ټولنې شکایتونو) او د قانوني پروسې د استماعیه غونډې لپاره بېلابېل پروسیجرونه لري. د ټولنې شکایت له OSPI سره د هر هغه فرد یا سازمان لخوا ثبتېدی شي چې ادعا کوي د ښوونیزې حوزې، OSPI یا کومې بلې عامه اداري د B برخې له الزاماتو، هغو فدرالي مقرراتو چې د 34 CFR په 300 برخه کې شامل دي یا د ایالت له هغو مقرراتو سرغړونه کړې چې د IDEA د B برخه یې پلي کوي. د ټولنې شکایتونه د OSPI لخوا د سرغړونو په تړاو د شکایت ثبتوونکو کسانو او ښوونیزې حوزې یا بلې شکایت ته ځواب ویونکې اداري لخوا د چمتو شویو معلوماتو پر اساس څېړل کېږي. د ټولنې شکایتونه باید تر ادعا شوې سرغړونې وروسته په یوه کال کې ثبت شي.

د قانوني پروسي استماعيه غونډې ستاسو د ماشوم د پېژندنې، ارزونې يا ښوونيزې ځايګاه يا مو ماشوم ته د وړيا مناسبې زده کړې تر وړاندې کولو پورې هر ډول اړونده مسايلو په تړاو يوازې ستاسو يا ښوونيزې حوزې لخوا ثبتېدای شي. د قانوني پروسي استماعيه غونډې د اداري استماعيه غونډو (Office of Administrative Hearings) د هغه دفتر لخوا د قانون د ګومارل شوي اداري قاضي لخوا ترسره کېدی شي چې خپلواکه ايالتي اداره ده. د قانوني پروسي استماعيه غونډې د شاهدانو ثبوت او د ثبوت معرفي شامله ده. د قانوني پروسي د استماعيه غونډو غوښتنې بايد تر ادعا شوې سرغړونې وروسته په يوه کال کې ثبت شي (د ناسم بيان يا د معلوماتو د ساتلو لپاره په ځينو استثناوو سره.)

د ټولنې د شکاياتو او د قانوني پروسي د استماعيه غونډو مهالويش او پروسيجرونه لاندې تشريح شوي.

## د ټولنې د شکاياتو پروسيجرونه
## 34 CFR §300.151–300.153; WAC 392-172A-05025–05045

OSPI د ايالتي شکايتونو د حل او فصل لپاره پروسيجرونه لري. پروسيجرونه د ايالت په مقرراتو کې شامل دي او د دولتي شکايتونو په اړه معلومات په ويبپاڼه کې ساتل کيږي.

که تاسو، کوم بل کس يا سازمان پر دې باور وي چې حوزې، OSPI يا بلې داسې ښوونيزې ادارې چې د IDEA لخوا اداره کيږي؛ د IDEA د B برخې، هغه مقررات چې B برخه پلي کوي، يا له اړونده ايالتي مقرراتو څخه سرغړونه کړې، نو تاسو کولی شئ د Office of Superintendent of Public Instruction (OSPI), Special Education, PO Box 47200, Olympia, WA 98504-7200 سره ليکلې شکايت ثبت کړئ. بايد حوزې يا بلې هغې ادارې ته د شکايت يوه کاپي ورکړئ چې پر وړاندې يې شکايت کوئ.

### د شکايت ثبتول

ليکلی شکايت بايد ستاسو يا هغه کس يا سازمان لخوا لاسليک شي چې شکايت ثبتوي او بايد لاندې معلومات پکې شامل وي:

- داسې بيان چې وايي چې يوې حوزې يا بلې ادارې د IDEA د B برخې له الزاماتو، هغه مقررات چې د B برخې پلي کوي، د اړونده دولتي قانون يا مقرراتو څخه سرغړونه کړې يا داسې بيان چې وايي چې حوزه يا بله اداره د منځګړيتوب يا حل او فصل تړون نه پلي کوي؛
- د حوزې يا بلې ادارې نوم او پته؛
- د زده کوونکي نوم، که شکايت د زده کوونکي مشخص هغه وي، او د اړيکو معلومات، که زده کوونکی بې کوره وي؛
- د هغه ښوونځي نوم چې زده کوونکی ورځي؛
- د ځانګړو واقعيتونو لرونکي ستونزې توضيح؛
- د ستونزې وړانديز شوی حل تر هغه حده چې دغه معلومات تاسو ته معلوم او د شکايت ثبتولو پر وخت شته وي؛ او
- ستاسو نوم، پته او د ټليفون شمېره.

سرغړونه بايد تر هغې نېټې **يو کال** مخکې نه وي پيښه شوې چې OSPI پرې د پورته الزاماتو پوره کوونکی شکايت ترلاسه کړی و.

OSPI يوه ماډل فورمه رامنځته کړې چې د شکايت د ثبتولو لپاره يې کارولی شئ. دغه فورمه د OSPI –ځانګړو زده کړو – د ټولنې شکايت ثبتولو– تکراري پوښتل شويو پوښتنو او غوښتنو د فورمونو په ويبپاڼه کې شته ده. اړ نه ياست چې دغه فورمه وکاروئ.

### د شکايت څېړنې/تحقيقات

OSPI بايد د شکايت له ترلاسه کولو 60 ورځې وروسته، مګر دا چې د وخت غځونه ضمانت ولري: يوه ليکلې پرېکړه وڅېړي او صادره يې کړي. OSPI د 60 ورځو په بهير کې (1) له حوزې غواړي چې شکايت ته ځواب ورکړي؛ (2) تاسو يا شکايت کوونکي ته فرصت درکوي چې په شکايت کې د ادعاوو په اړه اضافي معلومات وسپاري؛ (3) کيدای شي په ساحه کې خپلواکه څېړنه ترسره کړي، که OSPI معلومه کړي چې ياده څېړنه اړينه ده او (4) ټول اړونده معلومات بيا ګوري او يوه خپلواکه پرېکړه کوي چې آيا حوزه يا بله اداره د IDEA تر B برخې پورې له اړوندو الزاماتو څخه سرغړونه کوي کنه.

### څېړنه، غځونه، ليکلې پرېکړه

60 ورځنۍ زماني محدوده يوازې په لاندې صورتونو کې غځېدلی کېدی شي، که: (1) د ځانګړي شکايت په تړاو استثنايي شرايط شتون لري؛ **يا** (2) تاسو او ښوونيزه حوزه په داوطلبانه توګه ليکلې موافقه کوئ چې د منځګړيتوب يا د شخړو د حل لپاره د بديل حل د ميتود له لارې شکايت حلولو وخت وغځوئ.

ليکلې پرېکړه تاسو يا شکايت ثبتوونکي کس او دغه راز ښوونيزې حوزې ته لېږل کيږي. ليکلې پرېکړه به هرې ادعا ته رسيدګي وکړي. ليکلې پرېکړه به د هرې ادعا لپاره د حقيقتي موندنې، پايلې، د پرېکړې کولو دليلونه او هر هغه معقول اصلاحي اقدامونه چې د شکايت د

حلولو لپاره اړین ګڼل کیږي، بیان کړي، که سرغړونه رامنځته شوې وي.

### د شکایت علاجونه/حل لارې

کله چې OSPI د شکایت د پروسې له لارې د مناسبو خدمتونو په وړاندې کولو کې سرغړونه یا ناکامي پیدا کوي، نو پریکړه لاندې مواردو ته رسیدګي کوي:

1. دا چې څنګه د دغو خدمتونو د رد کېدو لپاره حل لاره ورکړل شي، د پیسو بیا تادیه ورکول یا د زده کوونکي (زده کوونکو) له اړتیاوو سره سم د نورو اصلاحي اقداماتو په ګډون؛ او
2. په راتلونکي کې د ټولو زده کوونکو لپاره ځانګړو زده کړو خدمتونو په مناسبه توګه وړاندې کول.

### د ځانګړو زده کړو د ټولنې شکایتونه او قانوني پروسې استماعیه غونډې

که د ټولنې داسې شکایت ترلاسه شي چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې تابع هم وي یا شکایت څو ګوني مسلې لري او یوه یا ډېرې یې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې برخه وي، نو OSPI باید د شکایت یوې برخې کومه داسې برخه جلا کړي (بلکه ونه څېړي) چې تر هغه د قانوني پروسې په استماعیه غونډه کې ورته رسیدګي کېږي څو چې یاده غونډه پای ته ورسي. هر هغه مسله چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې برخه نه وي، باید د شکایت په مهالویش کې حل او فصل شي.

که په شکایت کې راپورته شوې مسله له مخکې د ورته اړخونو په ګډون د قانوني پروسې د استماعیه غونډې کې پرې پریکړه نیول شوې وي، د استماعیه غونډې پریکړه لازمي ده او OSPI باید شکایت کوونکي ته خبر ورکړي چې ممکن دغه مسله ونه څېړي.

OSPI باید هغه شکایت حل کړي چې ادعا کوي چې حوزه د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د پرېکړې په پلي کولو کې پاتې راغلې ده.

## د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونه 34 CFR §300.507-300.513; WAC 392-172A-05080–05125

### عمومي

تاسو یا ښوونیزه حوزه ستاسو د ماشوم د پېژندنې، ارزونې یا ښوونیزې ځایګاه یا مو ماشوم ته د FAPE تر وړاندې کولو پورې هر ډول اړونده مسایلو په تړاو د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړئ. حوزه باید تاسو ته په ساحه کې د شته هر ډول وړیا یا ټیټ لګښت لرونکو قانوني او نورو اړوندو خدمتونو په تړاو خبر درکړي کله چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبتېږي یا هغه مهال چې د دغو معلوماتو غوښتنه کوئ. د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونو لپاره په "تاسو" کې ستاسو وکیل شامل دی، که مو یو دانه ساتلی وي او په "حوزه" کې د حوزې وکیل شامل دی، که حوزه د وکیل په وسیله استازیتوب ولري.

### ثبتول

تاسو یا حوزه باید د استماعیه غونډې د غوښتنې لپاره اړخ ته د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه وسپارئ. په یاده غوښنه کې باید لاندې ذکر شوې ټوله منځپانګه شامله وي او باید محرمه وساتل شي.

تاسو یا حوزه، هر یوه غوښتنه ثبت کړې وي، باید دغه راز د OSPI ځانګړې شوې کس، اداري استماعیه غونډو دفتر (OAH، Office of Administrative Hearings) ته په لاندې پتې سره استماعیه غونډې د غوښتنې یوه کاپي ورکړي:

Office of Administrative Hearings
600University Street, Suite 1500
Seattle, WA 98101-3126
فکس: 206-587-5135

د قانوني پروسې د استماعیه غونډې په غوښتنې کې باید لاندې موارد شامل وي:

1. زده کوونکی نوم؛
2. د زده کوونکي د اوسېدو ځای پته؛
3. د زده کوونکی د ښوونځي نوم؛
4. د زده کوونکي د اړیکو معلومات، که زده کوونکی بې کوره ماشوم یا تنکی ځوان وي؛
5. د ستونزې د ماهیت توضیحات، تر ستونزې اړونده واقعیتونو په ګډون؛ او
6. د ستونزې وړاندیز شوی حل تر هغه حده چې تاسو یا حوزې ته په هغه وخت کې معلوم وي او شتون لري.

### د قانوني پروسې د استماعیه غونډې تر غوښتنې مخکې اړینه خبرتیا

تاسو یا حوزه ممکن تر هغه وخته د قانوني پروسې د استماعیه غونډه ونه لرئ څو چې تاسو یا حوزه له بل اړخ سره د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه نه وي ترسره کړې او OAH ته د داسې غوښتنې یوه کاپي نه وي چمتو کړې چې پورته لېست شوې معلومات پکې شامل وي.

### د استماعیه غونډې کفایت

د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې د پر مخ تلو لپاره باید یاده غونډه کافي وګڼل شي. *د کافي والي* معنا دا ده چې غوښتنه د منځپانګې هغه الزامات چې د *'نیول'* لاندې ذکر شوي؛ پوره کوي. د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه به کافي وګڼل شي، مګر دا چې هغه اړخ چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه یې ترلاسه کړې، ALJ او بل اړخ ته په لیکلي توګه په 15 کالیزو ورځو کې خبر ورکړي چې ترلاسه کوونکی اړخ باور لري چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه کافي نه ده.

ALJ باید د ناکافي والي د خبرتیا ترلاسه کولو وروسته په پنځو ورځو کې پریکړه وکړي چې آیا د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه پورته لېست شوي الزامات پوره کوي او تاسو او حوزې ته سملاسي په لیکلي ډول خبر درکړي.

### د استماعیه غونډې د غوښتنې تعدیلات

تاسو یا حوزه د استماعیه غونډې په غوښتنه یوازې په لاندې صورتونو کې بدلونونه راوستلای شئ، که:

1. بل اړخ په لیکلو سره بدلونونه تایید کړي او د حل او فصل د هغې ناستې له لارې د استماعیه غونډې د غوښتنې چانس ورکول کیږي (که تاسو یا والدینو د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه کړې وي) چې لاندې تشریح شوي؛ یا
2. د قانوني پروسې د استماعیه غونډې تر پیلېدو پنځه ورځې مخکې د استماعیه غونډې مامور د بدلونونو اجازه ورکوي.

که تاسو د استماعیې غونډې غوښتونکی لوری یئ او د دغې غونډې په غوښتنه کې کوم بدلون راولئ، نو د حل و فصل د غونډې او حل کولو وخت (دا وګورئ: *د حل پروسه*) په هغه نېټه بیا پیلیږي چې اصلاح شوې غوښتنه شوې یا هغه نېټه چې ALJ دا غوښتنه ورکوي.

### د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پر وړاندې د ښوونیزې حوزې ځواب

که حوزې له وړاندې تاسو ته، لکه د *مخکینی لیکلې خبرتیا* تر عنوان لاندې چې وویل شول، د هغې موضوع په اړه خبرتیا نه ده استولې چې ستاسو د قانوني پروسې استماعیې غونډې په غوښتنه کې ده؛ نو حوزه باید د استماعیې غونډې د غوښتنې له ترلاسه کولو وروسته په 10 ورځو کې یو ځواب واستوي چې لاندې موارد پکې وي:

1. په دې اړه یوه تشریح چې حوزې ولې وړاندیز کړی یا یې رد کړې چې هغه اقدام وکړي چې د استماعیې غونډې په غوښتنه کې دی؛
2. د نورو انتخابونو یوه غوښتنه چې ستاسو د ماشوم IEP ټیم غور پرې کړی او د دې دلیل چې دغه انتخابونه ولې رد شوي؛
3. د ارزونې د هر پروسیجر، د ارزونې د سوابقو یا د اقدام لپاره د قاعدې په توګه کارول کېدونکي راپور توضیحات یا هغه راپور چې حوزې د وړاندیز کړي یا رد کړي اقدام لپاره اساس نیولی؛ او
4. د نورو عواملو توضیح چې د حوزې په وړاندیز کړي یا رد کړي اقدام پورې اړه لري.

حوزه لا هم ښايي ادعا وکړي چې ستاسو د استماعیه غونډې غوښتنه ناکافي ده؛ ان که دا تاسو ته هغه معلومات درکړي چې په پورته په 1–4 مواردو کې ذکر شول.

### د قانوني پروسې د استماعیه غونډې پر وړاندې د بل لوري ځواب

د انضباط لپاره د قانوني پروسې استماعیې غونډو په استثنا چې *د انضباط لپاره د قانوني پروسې پروسیجر* تر عنوان لاندې بحث پرې وشو؛ هغه لوری چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ترلاسه کوي، باید د غوښتنې له ترلاسه کولو وروسته په 10 ورځو کې بل لوري ته یو ځواب واستوي چې په مشخص ډول په غوښتنه کې راغلې ستونزه حل کوي. هر لوری بیا هم ادعا کولای شي چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه کافي نه ده.

## نمونه‌اي فورمونه

## 34 CFR §300.509; WAC 392-172A-05085

OSPI د قانوني پروسې د استماعیې غونډې غوښتلو نمونه‌اي فورمونه جوړ کړي چې له تاسو سره د قانوني پروسې د استماعیې غونډې غوښتنې په ثبتولو کې مرسته وکړي. دا فورم په [OSPI – ځانګړې زده کړې – د قانوني پروسې استماعیه غونډې غوښتنه – مکرري پوښتل شوې پوښتنې او د غوښتنې فورمونه ویبپاڼه کې د لاسرسي وړ دي].

اړ نه یاست چې دغه فورمه وکاروئ. بیا هم که د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره ستاسو غوښتنه کې ټول اړین معلومات نه وي، د قانوني پروسې استماعیه غونډې ته ستاسو حق ښايي رد یا ځنډول شي. تاسو همداراز ښايي وکولای شئ د خپلې ښوونیزې حوزې د

ځانګړې زده کړې له ځانګي څخه د استماعیه غونډې د غوښتنې فورم ترلاسه کړئ.

## په هغه وخت کې د زده کوونکي ځای پر ځای کول چې د قانوني پروسې استماعیه غونډه د انتظار په حالت کې ده 34 CFR §300.518; WAC 392-172A-05125

د هغه څه په استثنا چې لاندې تر د *ځانګړو زده‌کړو لپاره وړ زده‌کوونکو لپاره انضباطي پروسیجر* تر سرلیک لاندې راغلي، کله چې یوه لوري ته د قانوني پروسې استیناف غوښتنه واستول شوه، د حل او فصل په موده کې او هغه وخت چې د قانوني پروسې استماعیې غونډې یوې برخې ته په تمه یئ یا د محکمې په کړنو کې د ALJ پرېکړې استناف غوښتل ښکېل وي؛ ستاسو ماشوم باید په خپل اوسني ښوونیز ځای کې پاتې شي، مګر دا چې تاسو او حوزه پر بل څه توافق وکړئ.

د محکمې په طی مراحلو کې د زده کوونکي وضعیت د IEP ټیم د ناستې مخه نه نیسي؛ لکه څنګه چې اړتیا ده او غوښتل شوي. د IEP ټیم کولای شئ د زده کوونکي IEP اپډیټ یا پلي کړي؛ مګر دا چې پر بدلونو اختلاف وي.

که د قانوني پروسې استماعیه غونډې په غوښتنه کې په دولتي ښوونځي کې د لومړنی داخلې غوښتنلیک شامل وي؛ ستاسو ماشوم ستاسو په رضایت باید د دغو طی مراحلو تر بشپړېدو پورې د دولتي ښوونځي عادي پروګرام کې ځای پر ځای شي.

که د قانوني پروسې استماعیه غونډې په غوښتنه کې د IDEA د B برخې له مخې هغه ماشوم ته د لومړنیو خدمتونو وړاندې کول شامل وي چې د IDEA له C برخې څخه د IDEA د B برخې ته لېږدول کېږي او دا چې ستاسو ماشوم درې کلن شوی نو نور د C برخې خدمتونو لپاره وړ نه دی؛ ښوونیزه حوزه اړه نه ده چې ماشوم ته C برخې هغه خدمتونه وړاندې کړي چې هغه یا هغې ترلاسه کول. که ستاسو ماشوم د IDEA د B برخې له مخې پر شرایطو برابر وګڼل شي او تاسو رضایت ښیئ چې ماشوم مو د لومړي ځل لپاره ځانګړې زده کړه او اړوند خدمتونه ترلاسه کړي، نو د طی مراحلو پایلې به په انتظار حالت کې وي او ښوونیزه حوزه باید ستاسو ماشوم ته ځانګړې زده کړه او هغه خدمتونه وړاندې کړي چې ستاسو او حوزې تر منځ اختلاف پرې نشته.

که ALJ پرېکړه وکړي چې د ځای بدلون مناسب کار دی، نو د ځای په اړه پرېکړه باید د ځای لپاره د قانوني پروسې د پرېکړې لپاره د محکمې استناف پر مهال ستاسو او د ښوونځي ښوونیزو حوزې تر منځ تر توافق لاندې وي.

## د اختلافاتو د حل و فصل پروسه 34 CFR §300.510; WAC 392-172A-05090

### د اختلافاتو د حل و فصل ناسته

15 ورځې وروسته تر هغې چې تاسو له OAH او ښوونیزې حوزې سره د قانوني پروسې استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړه، نو حوزه باید له تاسو او د IEP ټیم له هغو اړوندو غړو سره یوه ناسته وکړي چې ستاسو د قانوني پروسې استماعیې غونډې په غوښتنه کې په ګوته شویو حقایقو باندې مشخصه پوهه ولري. دا ناسته باید وړاندې له دې وشي چې د قانوني پروسې استماعیه غونډې مهالویش پیل شي، مګر دا چې تاسو او حوزه پر یوه منځګړي توافق وکړئ یا توافق وکړئ چې د اختلافونو د حل و فصل له ناستې تېر شئ. په ناسته کې:

1. باید د حوزې یو استازی وي چې د حوزې په استازیتوب د پرېکړې کولو صلاحیت ولري؛ او
2. کېدای شي د حوزې کوم وکیل ګډون ونه کړي؛ مګر دا چې له تاسو سره وکیل وي.

ستاسو لپاره د ناستې موخه دا ده چې د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره پر خپله غوښتنه او هغو حقایقو بحث وکړئ چې د دغې غوښتنې اساس جوړوي، تر څو حوزه دا فرصت ولري چې اختلافات حل کړي. تاسو او حوزه د IEP ټیم اړوند غړي ټاکئ چې د اختلافاتو د حل و فصل غونډې ته حاضر شي.

په دغو شرایطو کې د حل و فصل غونډې ته اړتیا نشته:

1. تاسو او حوزه په لیکلې بڼه توافق کوئ چې له غونډې یا ناستې تېرېږئ؛ یا
2. تاسو او حوزه توافق کوئ چې د منځګړیتوب پروسې څخه کار واخلئ؛ لکه څنګه چې د *منځګړیتوب* تر سرلیک لاندې بحث پرې وشو.

### د اختلافاتو د حل و فصل موده

که چېرې حوزې OAH یا حوزې ته ستاسو لخوا د قانوني پروسې د استماعیه غونډې لپاره غوښتنې سپارلو وروسته په 30 ورځو کې د قانوني پروسې د استماعیې غونډې غوښتنه ستاسو له رضایت سره سمه نه وي حل کړې، د قانوني پروسې د استماعیه غونډه ښایي وشي.

د وروستۍ پرېکړې لپاره د 45 ورځو مهالویش د حل و فصل موده د 30 ورځو تر ختمېدو وروسته پیلېږي؛ د تعدیل لپاره ځانګړو استثناوو سره چې د حل و فصل پروسې په 30 ورځو موده کې راغلي؛ لکه لاندې چې تشریح شوي دي.

مګر دا چې تاسو او حوزې دواړو توافق کړی وي چې د حل و فصل له پروسې تېر شئ یا له منځګړیتوب کار واخلئ، د حل و فصل ناستې ته په حاضرېدو کې ستاسو ناکامي به د حل پروسې او استماعیه غونډې پروسې وخت وځنډوي، تر هغه چې تاسو په ناسته کې ګډون ومنئ.

که حوزه تر منطقي هڅو او د دغو هڅو تر مستند کولو وروسته ونه شي کولای تاسو ته د اختلافونو د حل په ناسته کې ګډون درکړي، نو حوزه کولای شي د حل و فصل مودې 30 ورځو په پای کې غوښتنه وکړي چې ALJ ستاسو د قانوني پروسې استماعیه غونډې غوښتنه رد کړي. د ښوونځي ښوونیزه حوزه باید خپل هغه هڅې مستندې کړي چې د اختلافونو د حل و فصل ناستې لپاره یې د دواړو اړخونو په خوښه وخت ټاکلو لپاره کړې دي. د مستند کولو په سوابقو کې دا هڅې شاملېږي:
1. د وهل شویو یا د ازمویل شویو ټیلیفوني زنګونو تفصیلي سوابق او د یادو زنګونو پایلې؛
2. تاسو ته د لېږل شویو لیکونو او هر ډول ترلاسه شویو ځوابونو کاپي ګانې؛ او
3. ستاسو له کور یا کار څخه د لیدنو تفصیلي سوابق او د دغو لیدنو پایلې.

که چېرې حوزه په دې کې پاتې راشي چې د حل و فصل غونډه کې د ګډون لپاره OAH **یا** حوزې ته ستاسو لخوا د قانوني پروسې استماعیه غونډې غوښتنې له وړاندې کولو وروسته 15 ورځو کې د اختلافونو د حل و فصل غونډه ونیسي؛ تاسو کولای شئ له ALJ څخه وغواړئ چې د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره د 45 ورځو مهالویش امر وکړي.

### د اختلافونو د حل و فصل 30 ورځو مودې سره سمون

که تاسو او حوزه په لیکلي بڼه توافق کوئ چې له غونډې یا ناستې تېرېږئ؛ نو د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره د 45 ورځو مهالویش په راتلونکې ورځ پیلېږي.

د منځګړي یا د اختلافونو د حل و فصل د ناستې تر پیلېدو وروسته او د حل و فصل مودې 30 ورځو تر پای ته رسېدو وړاندې، که تاسو او حوزه په لیکلې بڼه توافق وکړئ چې هیڅ تړون شونی نه دی؛ نو په راتلونکې ورځ د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره د 45 ورځو مهالویش په راتلونکې ورځ پیلېږي.

که تاسو او حوزه توافق وکړئ چې د منځګړیتوب له پروسې کار واخلئ، خو تر اوسه مو د اختلافاتو د حل 30 ورځو مودې په پای کې توافق نه دی کړی، دواړه لوري کولای شي په لیکلي بڼه توافق وکړي او توافق ته تر رسېدو پورې منځګړیتوب ته دوام ورکړي. سره له دې، که تاسو یا حوزه د منځګړیتوب له پروسې څخه ووځئ؛ نو په راتلونکې ورځ د قانوني پروسې استماعیه غونډې لپاره د 45 ورځو مهالویش په راتلونکې ورځ پیلېږي.

### د جوړجاړي لیکلی توافق

که تاسو او حوزه خپل اختلافونه د حل و فصل ناسته کې حل کړئ، نو تاسو او حوزه باید یوه قانوني لازم الاجرا تړون یا توافق ته ورسېږئ چې هغه:
1. ستاسو او د حوزې یو داسې استازي لخوا لاسلیک شي چې د حوزې په استازیتوب اجرا کولو صلاحیت ولري؛ او
2. د واشنګټن ایالات د با صلاحیته قضایي حوزې په هره ستره محکمه یا د متحده ایالاتو یوه سیمه ییزه محکمه کې د پلي کېدو وړ وي.

### د تړون یا توافق د بیاکتنې موده

که تاسو او حوزه د حل و فصل تر ناستې وروسته یوه تړون ته ورسېږئ، تاسو یا حوزه کولای شئ ستاسو او حوزې لخوا د تړون تر لاسلیک وروسته په درېیو کاري ورځو کې دا تړون باطل کړئ.

## د قانوني پروسې بې پرې استماعیه غونډه
## 34 CFR §300.511; WAC 392-172A-05080; WAC 192-172A-05090–05100; WAC 392-172A-05160

### عمومي

کله چې د قانوني پروسې استماعیه غونډې غوښتنه ثبت شي، تاسو او په شخړه کې ښکېله ښوونیزه حوزه باید د قانوني پروسې استماعیه غونډې فرصت ولرئ.

### د قانون اداري قاضيان (ALJ)

دا استماعیه غونډه به د یوه وړ خپلواک ALJ لخوا نیول کېږي چې د اداري استماعیو اداري (OAH) لخوا ګومارل شوی وي.

یو ALJ باید لږ تر لږه:

1. د OSPI یا هغې حوزې کارکوونکی وي چې په ښوونه یا د ماشوم پاملرنه کې ښکېله ده. سره له دې، یو کس یوازې د دې لپاره د ددغې اداري کارکوونکی نه دی چې د ALJ په توګه کار کولو لپاره د اداري لخوا پیسي ورکړل شي؛
2. باید داسي شخصي یا مسلکي ګټې ونه لري چې په استماعیه غونډه کې د ALJ له عینیت سره په ټکر کې وي؛
3. باید د IDEA ګټه او د IDEA اړوند فدرالی او ایالتي مقرراتو او د فدرال او ایالتي محکمو لخوا د IDEA قانوني تفاسیر درک کړي او پرې پوه شي؛ او
4. باید د استماعیې غونډې نیولو پوهه او وړتیا ولري، پرېکړې وکړای شي او ویې لیکلی شي چې له معیاري او مناسبو قانوني کړنو سره سمې وي.

OSPI د هغو کسانو یو لېست ساتي چې د ALJ په توګه کار کوي، چې په دې کې د هر کس لپاره د وړتیاوو یو بیان هم شامل دی.

### د قانوني پروسې استماعیه غونډې موضوع

کوم اړخ چې د قانوني پروسي استماعيې غونډې غوښتنه کوي، نه شي کولای په دې غونډه کې داسي ستونزې راپورته کړي چې په غوښتنه کې یې نه وي؛  مګر دا چې مقابل لوري یې ورسره ومني.

### د استماعیه غونډې د غوښتنې لپاره مهالویش

تاسو یا حوزه باید د قانوني پروسي استماعیي غونډې لپاره خپله غوښتنه له پوهېدو وروسته تر دوو کالو پورې ثبت کړئ، او باید د هغو موضوعاتو په اړه خبر وئ چې د استماعیې په غوښتنه کې حل شوې دي.

### په مهالویش کې استثناوې

که تاسو د قانوني پروسي استماعيې غونډې غوښتنه ثبت نه کړئ، پورتنی مهالویش نه پلی کېږي؛ ځکه چې:

1. حوزې په ځانګړې توګه په ناسمه توګه ویلي وي چې ستونزه یا هغه ستونزې یې حل کړې دي چې تاسو د استماعیي غونډې لپاره خپله غوښتنه کې راپورته کړې دي؛ یا
2. حوزې تاسو ته هغه معلومات نه وي درکړي چې باید تاسو ته د IDEA د B برخې له مخې درکړل شي.

## د استماعیې غونډې حقونه
## 34 CFR §300.512; WAC 392-172A-05100

### عمومي

تاسو حق لرئ چې د قانوني پروسي استماعیي غونډه کې د ځان استازیتوب وکړئ (د هغې استماعیې په ګډون چې په انضباطي پروسیجر پورې اړه لري). تاسو او د ښوونځي حوزه د قانوني پروسي استماعیي غونډې د اړخونو په توګه (د هغې استماعیې په ګډون چې په انضباطي پروسیجر پورې اړه لري)، حق لرئ چې:

1. یو وکیل مو استازیتوب وکړي او د یو داسي کس درسره مل وي او مشوره درکړي چې د معلولو زده کوونکو د ستونزو به اړه پوهه یا ځانګړې روزنه ولري؛
2. شواهد او مقابله وړاندې کړئ، متقابلې پوښتنې وکړئ او شاهدان حاضر کړئ.
3. په استماعیه کې د هغو شواهدو له وړاندې کولو ډډه وکړئ چې مقابل لوري ته تر استماعیې لږ تر لږه پینځه کاري ورځې وړاندې نه دي افشا شوي؛
4. د استماعیې لیکلی، یا ستاسو په خوښه برېښنایي، کلیمه په کلیمه ریکارډ واخلئ؛ او
5. په لیکلي یا ستاسو په خوښه برېښنایي بڼه پرېکړې یا حقیقت موندنې ترلاسه کړئ.

### د معلوماتو نوره افشا

د قانوني پروسي تر استماعیي غونډې لږ تر لږه پینځه کاري ورځې وړاندې تاسو او حوزه باید تر هغې نېټې پورې ټول بشپړې شوې ارزونې او د ارزونې پر بنسټ سپارښتنې افشا کړئ چې تاسو یا حوزه یې غواړي په استماعیه کې ګټه ترې واخلي.

یو ALJ کولی شئ د بل لوري له رضایت پرته د هر هغه اړخ مخه ونیسي چې دا الزامات یې نه وي پوره کړي او په استماعیه کې یې د اړوندو ارزونو یا سپارښتنو وړاندې کولو ته پرې نه ږدي.

### په استماعیه غونډو کې شخصي حقونه

تاسو ته باید حق درکړل شي چې:

1. ماشوم مو درسره راولئ؛
2. استماعیه عامه کړئ؛ او
3. د استماعیې، حقیقت موندلو یا پرېکړو ریکارډ په وړیا توګه ترلاسه کړئ.

## د استماعیو مهالویشونه او راحتئ
## 34 CFR §300.515; WAC 392-172-05110

تر 45 ورځو وړاندې تر دې نه چې د اختلافونو د حل و فصل غونډو 30 ورځې موده انقضا شي **یا** تر 45 ورځو وروسته تر دې نه چې د اختلافونو د حل و فصل تعدیل شوی وخت انقضا شي:

1. په استماعه کې یوه وروستی پرېکړه شوې وي؛ او
2. دواړو اړخونو ته د پرېکړې یوه کاپي استول شوې وي.

یو ALJ کولای شي د یوه لوري په غوښتنه تر پورته تشریح شویو 45 ورځو وروسته موده وغځوي.

هره استماعیه په یوه داسې وخت او ځای کې ترسره شي چې تاسو او ستاسو ماشوم ته منطقي راحته وي.

## د استماعیې غونډې پرېکړې
## 34 CFR § 300.513; WAC 392-172-05100–05105

### د ALJ پرېکړه

په دې اړه د یوه ALJ پرېکړه چې ایا ستاسو ماشوم وړتیا عامه ښوونه (FAPE) ترلاسه کړې که نه، باید د اساسي دلایلو پر بنسټ وي.

په هغو استماعیو کې چې تاسو ادعا کوئ حوزې پروسیجري سرغړونه کړې، یو ALJ کولای شي ومومي چې ستاسو ماشوم FAPE نه دي ترلاسه کړې یوازې د دې لپاره چې دغو پروسیجري نیمګړتیاوو:

1. FAPE ته په لاسرسي کې ستاسو د ماشوم په حق کې تداخل کړی؛
2. ستاسو ماشوم ته د FAPE وړاندې کولو په اړه پرېکړه کوونکي پروسه کې يې ستاسو د ګډون په فرصت کې د پام وړ تداخل کړی؛ یا
3. له یوې ښوونیزې ګټې د محرومیت سبب شوی.

### د جوړولو بند

ان که ALJ کومه د FAPE سرغړونه پیدا نه کړي، ALJ بیا هم حوزې ته امر کولای شي چې د IDEA د B برخې (34 CFR §§300.500 through 300.536) له مخې د فدرالي مقرراتو د پروسیجري خوندیتوبونو د برخې له الزاماتو سره ځان سم کړي.

### د قانوني پروسې د استماعیه غونډې بېله غوښتنه

تاسو کولی شئ د قانوني پروسې د استماعیه غونډې یوه بېله غوښتنه وکړئ چې په مخکینی غوښتنه کې له راغلو ستونزو څخه د بېلې ستونزې په اړه وي.

### د عامو خلکو او مشاورې پلاوي لپاره پرېکړې او موندنې

OSPI شخصي معرفي کوونکي معلومات حذفوي او:

1. د قانوني پروسې استماعیه غونډو موندنې او وړاندې شوي موارد د واشنګټن د ځانګړو زده کړو د مشاورې کمېټې (SEAC، Special Education Advisory Committee) ته وړاندې کوي؛ او
2. دغه موندنې او پرېکړې د عامو خلکو د لاسرسي وړ کوي.

## د پرېکړې وروستۍوالی؛ استیناف غوښتنه
## 34 CFR §300.514; WAC 392-172A-05115

کومه پرېکړه چې د قانوني پروسې استماعیه غونډه (د انضباطي پروسیجرونو اړوندې استماعیې په ګډون) کېږي، وروستۍ ده؛ مګر دا چې کوم اړخ (تاسو یا حوزه) چې په استماعیه کې ښکېل دی، لکه پورته چې وویل شول د ملکي اقدام په راوړلو سره پر پرېکړه د

استیناف غوښتنه کوي.

## ملکي اقدامات، د هغه موديې په ګډون چې دغه اقدامات پکې درج کیږي 34 CFR §300.516; WAC 392-172A-05115

### عمومي

که کوم اړخ د قانوني پروسې د استماعیه غونډې (د انضباطي پروسیجرونو اړوندې استماعیې په ګډون) له موندنو او پرېکړو سره موافق نه وي، دغه اړخ حق لري چې د قانوني پروسې استماعیه غونډې د موضوع اړوند مدني اقدام رامخې ته کړي. دغه اقدام با صلاحیته قضایي حوزې په یوه داسې ایالتي محکمه کې (یوه ایالتي محکمه چې د دې ډول قضیې د استماعیې واک لري) یا د متحده ایالاتو د حوزې په محکمه کې ترسره کېدی شي. د متحده ایالاتو د حوزې محکمه د IDEA د B برخې له مخې د اختلاف اندازې ته له پام پرته د رامخته شویو اقدامونو د کنټرولولو واک لري.

### د وخت محدودیت

هغه اړخ چې اقدام کوي، د مدني اقدام د ثبتولو لپاره د ALJ د پریکړې تر نیټې وروسته **90** تقویمي ورځې ولري.

### اضافي پروسیجرونه

محکمه په مدني اقدام کې:

1. د اداري طی مراحلو سوابق ترلاسه کوي؛
2. ستاسو یا د حوزې په غوښتنه اضافي شواهد اوري؛ او
3. خپله پریکړه د شواهدو د زیاتوالي پر اساس کوي او هغه راحت ورکوي چې محکمه یې مناسب بولي.

### د ودانولو/جوړولو اصول

د IDEA په B برخه کې هیڅ شی د متحده ایالاتو د اساسي قانون د 1990 د معلولیت لرونکو امریکایانو قانون، د 1973 د بیارغووني قانون V سرلیک (504 برخې) یا نورو هغو فدرالي قوانینو له مخې معلولیت لرونکو زده کونکو لپاره شته حقونه، پروسیجرونه او حل لارې نه محدودوي. که څه هم که د دغو قوانینو له مخې مدني اقدام ثبتوئ او د هغه راحتۍ په لټه کې یاست چې د IDEA د B برخې له مخې هم شته، د پورته ذکر شوې قانوني پروسې د استماعیه غونډې پروسیجرونه باید په هماغه اندازه پای ته ورسیږي څنګه چې تاسو د اقدام ثبتولو په صورت کې اړین وي؛ که مو د IDEA د B برخې له مخې اقدام ثبت کړی وي. معنا یې دا ده چې ممکن د نورو هغو قوانینو له مخې حل لارې ولرئ چې د IDEA له مخې پر هغو باندې ورځې، خو په عمومي توګه د دغو نورو قوانینو له مخې د راحتۍ ترلاسه کولو لپاره باید لومړی په مستقیم ډول محکمې ته تر تګ مخکې د IDEA له مخې د شته حل لارو د ترلاسه کولو لپاره د قانوني پروسې له بې طرفه استماعیه غونډې څخه کار واخلئ.

## د وکیلانو فیسونه 34 CFR §300.517; WAC 392-172A-05120

### عمومي

که په مدني اقدام کې غالب شئ (ویې ګټئ) او یوه وکیل مو استازیتوب کړی وي، نو محکمه، په خپل اختیار کې، ستاسو لپاره د لګښتونو د یوې برخې په توګه د وکیلانو معقول فیسونه ورکړي.

د IDEA د B برخې له مخې د هر ډول رامخته شوي اقدام یا طی مراحلو کې محکمه، په خپل اختیار کې، کولای شي د وکیلانو معقول فیسونه د لګښتونو د یوې برخې په توګه هغې غالبې ښوونیزې حوزې یا OSPI ته ورکړي، چې ستاسو د وکیل لخوا تادیه شي، که وکیل: (الف) یو داسې شکایت یا د محکمې قضیه ثبت کړې وي چې محکمه یې بې اساسه، غیر معقوله یا بې بنسټه ومومي **یا** (ب) وروسته تر دې چې قضیه په ښکاره ډول بې اساسه، غیر معقوله یا بې بنسټه شوه، محاکمې ته یې دوام ورکړی وي؛ یا

د IDEA د B برخې له مخې د هر ډ،ل رامخته شوي اقدام یا طی مراحلو کې محکمه، په خپل اختیار کې، کولی شي د وکیلانو معقول فیسونه د لګښتونو د یوې برخې په توګه هغې غالبې ښوونیزې حوزې یا OSPI ته ورکړي، چې ستاسو د وکیل لخوا تادیه شي، که د قانوني پروسې د استماعیه غونډې یا د محکمې وروستنۍ قضیې لپاره ستاسو غوښتنه د کومې ناسمې موخې لپاره وړاندې شوې وي، لکه ځورول، غیر ضروري ځنډول یا په غیر ضروري توګه د اقدام یا پروسې لګښت زیاتول.

### د فیسونو ورکول

د وکیلانو فیسونه باید په هغه ټولنه کې د مروجو نرخونو پر اساس وي چې اقدام استماعیه پکې د وړاندې شویو خدمتونو د ډول او کیفیت

لپاره رامنځته شوې ده. د ورکړل شویو فیسونو په محاسبه کې بونس/اضافي تادیه یا ضریب نه شي کارول کیدی.

د وکیلانو فیسونه د ترسره شویو خدمتونو په پار تاسو ته د حل و فصل په هکله تر لیکلې خبرتیا درکولو وروسته ممکن ورنه کړل شي او اړونده لګښتونه د IDEA د B برخې له مخې په هیڅ ډول اقدام یا طی مراحلو تادیه کیدی نه شي؛ که:

1. وړاندیز د مدني پروسیجر د فدرالي قواعدو د 68 قاعدې لخوا په ټاکل شوي وخت کې ترسره شي یا د قانوني پروسې د استماعیه غونډې یا د ایالت پر کچه بیاکتنې په صورت کې د طی مراحلو تر پیل تر 10 کالیزو ورځو ډېر هر وخت کې ترسره شي؛
2. وړاندیز په 10 تقویمي ورځو کې نه وي منل شوی؛ او
3. محکمه یا ALJ پوه شي چې په پای کې ستاسو لخوا ترلاسه شوی راحت ستاسو لپاره د حل تر وړاندیز څخه ډېر د خوښې وړ نه دی.

پر دغو محدودیتونو سربېره ښایي محکمه تاسو ته د وکیلانو فیسونه او اړوند لګښتونه درکړي، که تاسو غالبېږئ او تاسو د حل وړاندیز ردولو کې د پام وړ توجیه ولرئ.

د IEP ټیم تر هرې ناستې پورې د وکیلانو اړوند فیس ممکن ورنه کړل شي، مګر دا چې غونډه د اداري طی مراحلو یا د محکمې د اقدام په پایله کې جوړه شوې وي.

د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د پروسیجرونو له مخې د حل و فصل اړینه غونډه د اداري استماعیې یا د محکمې اقدام په پایله کې جوړه شوې غونډه نه ګڼل کیږي او دغه راز د وکیلانو دغو فیسونو اکمال موخو لپاره اداري استماعیه یا د محکمې اقدام نه ګڼل کیږي.

د IDEA د B برخې له مخې د وکیلانو د ورکول کېدونکو فیسونو اندازه راکمولی شي، څنګه چې مناسبه وي، که محکمه پوهه شي چې:

1. تاسو یا مو وکیل د اقدام یا طی مراحلو په بهیر کې د شخړې وروستی حل په غیر معقول ډول ځنډولی؛
2. د وکیلانو د هغه فیس اندازه چې په غیر معقوله توګه په بل ډول ورکول کیږي، په ټولنه کې د ورته خدمتونو لپاره د معقولو ورته مهارت، شهرت او تجربې لرونکو وکیلانو لپاره د ساعت تر مروج نرخ ډېر دی؛
3. لګول شوي وخت او ترسره شوي حقوقي خدمتونه د اقدام یا طی مراحلو ډول ته په پام سره ډېر وو؛ یا
4. هغه وکیل چې ستاسو استازیتوب کوي، حوزې ته د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې په خبرتیا کې هغه مناسب معلومات نه دي ورکړي څنګه چې د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې تر *سرلیک لاندې تشریح شوي.*

که څه هم محکمه ممکن فیسونه کم نه کړي، که پوه شي چې ایالت یا ښوونیزې حوزې په غیر معقول ډول د اقدام یا طی مراحلو په فاینل حل کې ځنډ راوستی یا د IDEA د B برخې د پروسیجري محافظتونو له احکامو څخه سرغړونه وه.

## د ځانګړو زده کړو لپاره د مستحقو زده کوونکو لپاره انضباطي پروسیجرونه

ستاسو ماشوم ته د ځانګړو زده کړو محافظتونه شته کله چې هغه/دا انضباطیږي. دغه محافظتونه پر انضباطي پروسیجرونو سربیره شته دي چې پر ټولو زده کوونکو پلي کیږي. دغه محافظتونه پر هغو زده کوونکو هم پلي کیږي چې لا د ځانګړو زده کړو لپاره مستحق نه دي ګڼل شوي، که حوزې پوه شوې وای چې زده کوونکی به مستحق وي.

## د ښوونځي د پرسونل واک
## 34 CFR §300.530; WAC 392-172A-05145

### مورد پر مورد معلومول

د ښوونځي پرسونل ممکن د مورد پر اساس د دې معلومولو پر مهال هر ډول ځانګړي شرایط په پام کې ونیسي چې آیا تر انضباط اړوندو لاندې الزاماتو له مخې د ځای رامنځته شوی بدلون (لاندې د *انضباطي اخراجونو له امله د ځای بدلون لپاره تعریف* وګورئ) ستاسو د هغه ماشوم لپاره مناسب دی چې د ښوونځي د زده کوونکو د چلند له قانون څخه سرغړونه کوي.

### عمومي

تر هغه حده چې دوی د هغو زده کوونکو لپاره چې د ځانګړو زده کړو خدمتونه نه ترلاسه کوي، دغه ډول اقدام کوي، د ښوونځي پرسونل کولی شي، په پرله پسې توګه تر **10 ښوونیزو ورځو** ډېر وخت نه وي، ستاسو ماشوم د خپل اوسني ځای څخه په مناسب وخت کې بدیل لنډمهاله تعلیمي یا بل چاپیریال ته لرې کړي یا مو ماشوم وځنډوي، کله چې دوی د زده کوونکو د چلند له قانون څخه سرغړونه کوي. د ښوونځي پرسونل دغه راز کولی شي ستاسو د ماشوم اضافي اخراجول د بد چلند د جلا پېښو له امله په ورته ښوونیز کال کې په پرله پسې توګه چې تر **10 ښوونیزو ورځو** ډېر نه وي، رامنځته کړي؛ تر هغه چې یاد اخراجونه د ځای بدلون نه رامنځته کوي (د تعریف لپاره لاندې *د انضباطي اخراجونو له امله د ځای د بدلون* تعریف وګورئ).

## د انضباطي اخراجونو له امله د ځای بدلون

## 34 CFR §300.536; WAC 392-172A-05146–05155

ستاسو د ماشوم له اوسني ښوونيز ځای څخه لیرې کول/اخرج **د ځای بدلون** دی، که:

1. اخراج په پرله پسي توګه تر10 ښوونيزو ورځو زيات دي؛ يا
2. ستاسو ماشوم د اخراجونو له لړۍ سره مخ شوی چې يوه نمونه جوړوي، ځکه چې:
   a. د اخراجونو د لړۍ ټوليزه اندازه په يوه ښوونيز کال کې تر 10 ښوونيزو ورځو زياته ده؛
   b. ستاسو د ماشوم چلند په هغو تيرو پيښو کې د هغه له چلند سره ښه سم ورته دی چې پايله يې د اخراجونو لړۍ وه؛ او
   c. اضافي عوامل په پام کې نيول شوي لکه د هر اخراج زماني اوږدوالی، ستاسو د ماشوم د اخراج ټوليز وخت او يو بل ته د اخراج نږدېوالی.

ښوونيزه حوزه معلوموي چې آيا د اخراج نمونه د مورد پر اساس د ځای بدلون رامنځته کوي کنه او که ستاسو لخوا وننګوول شي، د قانوني پروسې او قضايي طی مراحلو له لاې بیاکتل کيږي کنه.

### خبرتيا

په هغې نېټه چې حوزه د ايستلو پرېکړه وکړي چې دا ستاسو ماشوم ته د ماشوم د چلند قانون سرغړونې په سبب د ځای بدولن دی، بايد تاسو ته له دې پرېکړې خبر درکړي او د *ځانګړو زده‌کړو پروسيجري خونديتوبونو خبرتيا* درته وړاندې کړي.

### خدمتونه

يوه حوزه بايد ستاسو ماشوم ته، که دوی له خپل اوسني ځای څخه ايستل شوي وي، په هغه ښوونيز کال کې د **10 يا تر دې کمو ښوونيزو ورځو** لپاره خدمتونه وړاندې کړي او دا بايد هماغسې وي چې نورو زده کوونکو ته چې د ځانګړو زده کړو خدمتونه نه ترلاسه کوي او همداسې ايستل شوي، ته وړاندې کيږي. د عمومي زده کړې انضباط مقررات وايي چې د تعليق، ايستلو، يا بيړني حالت ايستول پر مهال د ښوونځي ښوونيزه حوزه بايد ستاسو زده‌کوونکي ته فرصت ورکړي چې ښوونيز خدمتونه ترلاسه کړي تر څو ستاسو ماشوم د عمومي زده کړې نصاب کې ګډون ته دوام ورکړي، د حوزې له ښوونيزو معيارونو سره برابر شي او مضمون، ټولګی او د فراغت اړتياوې پوره کړي (WAC 392-400-610).

هغه خدمتونه چې بايد ستاسو زده کوونکي ته د ايستل کېدو په وخت کې وړاندې شي، کېدای شي د لنډمهاله بديلو ښوونيزو خدمتونو په تنظيماتو کې وړاندې شي.

که ستاسو ماشوم يې له خپل اوسني ځايه **تر 10 ښوونيزو ورځو زيات** وخت لپاره ايستلی دی، ستاسو ماشوم بايد:

1. د ښوونيزو خدمتونو ترلاسه کولو ته دوام ورکړي، تر څو ستاسو ماشوم وکولی شي د عمومي ښوونې په نصاب کې ګډون ته دوام ورکړي، که څه هم په نورو چاپيريالونو کې وي او وده وکړي چې په خپله IEP کې يې ټاکل شويو موخو ته ورسيږي؛ او
2. که ستاسو د ماشوم چلند د هغوی د معلوليت په سبب و، دوی بايد که مناسبه وه د عملکرد چلندي ارزونه او د چلندي مداخلې خدمتونه او بدلونونه ترلاسه کړي؛ دا د دې لپاره جوړ شوي چې د دوی چلندي سرغړونه حل شي او بيا تکرار نه شي.

وروسته له دې چې ستاسو ماشوم له خپل اوسني ځايه د **10 ښوونيزو ورځو لپاره** په عين ښوونيز کال کې و ايستل شو او **که چيرې** اوسني ايستل د پرلپسې **10 ښوونيزو ورځو** يا کم وخت لپاره دي، **او** که دغه ايستل د ځای د بدلون په معنی نه وي (پورتنی تعريف وګورئ)، **نو** د ښوونځي کارکوونکي لږ تر لږه ستاسو د ماشوم له يوه ښوونکي سره په مشوره د خدمتونو هغه کچه وټاکي چې ور ته اړتيا ده تر څو ستاسو ماشوم وکولی شي د عمومي ښوونې نصاب کې ګډون ته دوام ورکړي، که څه هم په نورو تنظيماتو کې وي او هغو موخو ته ورسيږي چې ستاسو د ماشوم په IEP کې ټاکل شوي.

که ايستل د ځای بدلون وي (پورته تعريف وګورئ) نو ستاسو د ماشوم IEP ټيم هغه مناسب خدمتونه ټاکي چې ستاسو ماشوم وکولی شي د عمومي ښوونې په نصاب کې ګډون ته دوام ورکړي، که څه هم په نورو تنظيماتو کې وي او وده وکړي چې په خپله IEP کې يې ټاکل شويو موخو ته ورسيږي؛ او

### د ظاهرېدو ټاکل

د زده کوونکو د چلند کوډ څخه سرغړونې به سبب ستاسو د ماشوم د ځای د بدلون (*د انضباطي ايستلو په سبب د ځای بدلون* وګورئ) په اړه پرېکړې په **10 ښوونيزو ورځو کې** حوزه او د IEP ټيم اړوند غړي چې تاسو او حوزې ټاکلي، بايد ستاسو د ماشوم په دوسيه کې ټول اړوند معلومات وګوري؛ په ګډون د IEP، د ښوونکي ملاحظاتو او ستاسو لخوا وړاندې شوي اړوند معلومات تر څو وټاکي چې:

1. که دا چلند ستاسو د ماشوم د معلوليت په سبب و يا يې له دې سره اساسي او مستقيمه اړيکه لرله؛ يا
2. که دا چلند د دې مستقيمه پايله وه چې ښوونيزه حوزه ستاسو د ماشوم د IEP په پلي کولو کې پاتې راغلې.

که ستاسو په ګډون ستاسو د ماشوم د IEP ټیم اړوند غړي وټاکي چې له هغو شرطونو کوم یو پوره شوی؛ دا چلند باید ستاسو د ماشوم د معلولیت پایله وټاکل شي.

که پورته تشریح شوې ډله وټاکي چې دا چلند د دې مستقیمه پایله وه چې ښوونیزه حوزه ستاسو د ماشوم د IEP په پلي کولو کې پاتې راغلې؛ نو حوزه باید ژر اقدام وکړي چې دغه نیمګړتیاوې رفع کړي.

### د دې ټاکل چې چلند د زده کوونکي د معلولیت په سبب و

کله چې دا ډله، چې تاسو پکې شاملېږئ، وټاکي چې دا چلند ستاسو د ماشوم د معلولیت په سبب و، د IEP ټیم باید له دغو کارونو څخه یو وکړي:

1. یوه د عملکرد چلندي ارزونه وکړي، مګر دا چې حوزې دا ارزونه د دغه چلند تر پیښېدو وړاندې کړې وي چې د ځای بدلولو سبب شوې، او دغه راز ستاسو د ماشوم لپاره د چلندي مداخلې پلان پلی کړي؛ یا
2. که د چلندي مداخلې پلان له وړاندې جوړ شوی وي، دا پلان وګوري او که اړتیا وه تعدیل یې کړي تر څو ستاسو د ماشوم چلند حل کړي.

د هغه څه په استثنا چې لاندې د *ځانګړي شرایط* تر فرعي سرلیک لاندې تشریح شوي، حوزه باید ستاسو ماشوم هغه ځای ته بېرته راولي چې ترې ایستل شوی و؛ مګر دا چې تاسو او حوزه د چلندي مداخلې پلان د یوې برخې په توګه توافق وکړئ چې ځای یې بدل کړئ.

### اضافي صلاحیت

که هغه چلند چې د زده کوونکي د چلند له کوډ څخه سرغړونه وي، ستاسو د ماشوم د معلولیت په سبب نه وي (پورته د *مظهر ټاکل* وګورئ) او د انضباطي ځای بدلون تر پرلپسې **10 ښوونیزو ورځو** اوړي، د ښوونځي کارکوونکي کولی شي ستاسو د ماشوم پر وړاندې انضباطي پروسیجر په هماغه بڼه او همغومره مودې لپاره پلی کړي چې د هغو زده‌کوونکو لپاره یې کوي چې د ځانګړې زده‌کړې خدمتونه نه ترلاسه کوي؛ په دې استثنا چې ښوونځی باید ستاسو ماشوم ته هغه خدمتونه وړاندې کړي چې لاندې د *خدمتونه* تر سرلیک لاندې تشریح شوي. ستاسو د ماشوم IEP ټیم په دغه وضعیت کې ستاسو د ماشوم لپاره لنډمهاله بدیل ښوونیز تنظیمات ټاکي.

### ځانګړي شرایط

په لاندې صورتونو کې د ښوونځي کارکوونکي کولی شي ستاسو ماشوم دې ته له پام پرته چې ایا ستاسو د ماشوم چلند د هغه د معلولیت په سبب و که نه د 45 ښوونیزو ورځو لپاره لنډمهاله بدیلو ښوونیزو چاپېریالونو ته وباسي (چې د زده کوونکي د IEP ټیم لخوا ټاکل شوي):

1. ښوونځی ته یې وسله وړې وي (لاندې تعریف وګورئ) یا په ښوونځي، د ښوونځي محوطه یا د حوزې د قضایي حوزې له مخې د ښوونځي کار کې وسله ورسره وي؛
2. په شعوري بڼه ناقانونه نشه یي توکي لري یا یې کاروي (لاندې تعریف وګورئ)، یا یې پلوري یا د کنټرول شوو موادو پلور کوي یا یې غواړي (لاندې تعریف وګورئ)؛ دا که په ښوونځي کې وي که د ښوونځي محوطه یا د حوزې د قضایي حوزې له مخې د ښوونځي کار کې؛ یا
3. که یې څوک جدي بدني ټپي کړي وي (لاندې تعریف وګورئ)، دا که په ښوونځي کې وي که د ښوونځي محوطه یا د حوزې د قضایي حوزې له مخې د ښوونځي په کار کې.

### تعریفونه

- *کنټرول شوې ماده* یعنې مخدره توکي یا نور مواد چې د کنټرول شوو مواد قانون (21 U.S.C. 812(c)) د 202(c) برخې په I, II, III, IV یا V جدولونو کې مشخص شوي.
- *ناقانونه مخدره توکي* یعنې کنټرول شوي مواد؛ خو په دې کې هغه کنټرول شوي مواد یا ماده نه شاملېږي چې په قانوني توګه د روغتیاپلني متخصص لخوا جواز لرولو په صورت کې لرل کېدی یا کارول کېدی شي یا هغه چې په قانوني توګه د هغه قانون یا یوه فدرال قانون د مقرراتو له مخې کارول یا لرل کېدی شي.
- *جدي بدني ټپي کول* یعنې هغه بدني ټپ چې دا پکې شامل وي: د مړینې جدي ګواښ؛ شدید فزیکي درد؛ پټ یا ښکاره سو شکل؛ یا د بدن د یوه غړي، برخې یا اندام اوږدمهاله له کاره لوېدل یا له لاسه ورکول.
- *وسله* یعنې سلاح، اله، وسیله، ماده یا مواد؛ لوی وي که کوچني خو چې د مړه کولو یا ټپي کولو وړتیا ولري؛ په دې کې هغه جیبي چاقو نه شاملېږي چې تر دوو یا یوه نیم انچ لږ اوږدوالی ولري.

## د چاپېریال ټاکل
## 34 CFR § 300.531; WAC 392-172A-05145; WAC 392-172A-05149

IEP ټیم باید د اخراج لپاره هغه لنډمهاله بدیل ښوونیز چاپېریال وټاکي چې **د ځایګاه بدلونونه** دي او د ***اضافي واک*** او ***ځانګړو شرایطو تر سرلیک لاندې اخراجونه***، پورته.

## د ځای د استیناف/تجدید نظر پرېکړې او ظاهرېدو حل و فصل (انضباط لپاره د قانوني پروسې د استماعیې پروسیجرونه)
## 34 CFR § 300.532; WAC 392-172A-05160

کولی شئ د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړئ، که له لاندې مواردو سره مخالف یئ:

1. د انضباط د دغو احکامو له مخې د ځای نیول شوې پرېکړې؛ یا
2. د څرګندونو پورته تشریح شوی حل و فصل.

حوزه د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبتولی شي، که باور ولري چې ستاسو د ماشوم د اوسني ځای ساتل مو د ماشوم یا نورو کسانو د ټپ کېدو ډېر احتمال ولري.

د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې د ثبتولو په تړاو د لا ډېرو معلوماتو لپاره **د قانوني پروسې د استماعیه غونډې د پروسیجرونو برخه وګورئ.**

### د قانون د اداري قاضي صلاحیت

ALJ باید د قانوني پروسې د استماعیه غونډه ترسره او یوه پرېکړه ونیسي. ALJ ممکن:

1. ستاسو ماشوم هغه ځایه ته راوګرځوي چې ترې لیرې شوی و، که ALJ معلومه کړي چې اخراج د *ښوونځي د پرسونل د صلاحیت* تر سرلیک لاندې تشریح شوو اړتیاوو څخه سرغړونه وه یا دا چې ستاسو د ماشوم چلند د هغه/هغې د معلولی څرګندونه وه؛ یا
2. حکم ورکړي چې ستاسو د ماشوم ځای دې لنډمهاله بدیل ښوونیز چاپېریال ته د 45 ښوونیزو ورځو لپاره بدل شي، که ALJ معلومه کړي چې ستاسو د ماشوم د اوسني ځای ساتل مو د ماشوم یا نورو کسانو د ټپي کېدو ډېر احتمال ولري.

د استماعیه غونډو دغه پروسجرونه ښایي تکرار شي، که حوزه باور ولري چې اصلي ځای ته ستاسو د ماشوم را ګرځول د ماشوم یا نورو کسانو د ټپي کېدو ډېر احتمال ولري.

کله چې تاسو یا حوزه د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه کوئ، نو غوښتنه باید د *قانوني پروسې د استماعیه غونډې د غوښتنې پروسیجرونو او د قانوني پروسې استماعیه غونډې* تر سرلیکونو لاندې تشریح شوي الزامات پوره کړي، مګر د لاندې حالتونو په استثنا سره:

1. د قانوني پروسې استماعیه غونډه ګړندۍ وي او دا چې باید استماعیې د غوښتنې تر نېټې وروسته په **20** ښوونیزو ورځو کې پېښېږي. ALJ باید تر استماعیې وروسته په **10** ښوونیزو ورځو کې یوه پرېکړه صادره کړي.
2. د حل و فصل ناسته باید له OAH یا حوزې سره ستاسو د قانوني پروسې د استماعیې غونډې د غوښتنې تر ثبتولو وروسته په **اوو** کالیزو ورځو کې ترسره شي، مګر تاسو او حوزه له ناستې څخه پر صرف نظر کولو توافق وکړئ یا د منځګړیتوب په کارولو توافق وکړئ. استماعیه غونډه پر مخ تلی شي، مګر دا چې موضوع د دواړو خواوو د قناعت تر کچې پورې د قانوني پروسې د استماعیې له غوښتنې ترلاسه وروسته په **15** تقویمي ورځو کې حل شوې وي.

تاسو یا ښوونیزه حوزه هغه مدني اقدام پیلولی شئ چې د قانوني پروسې په استماعیه ګړندۍ غونډه کې له پرېکړې سره په داسې ورته طریقه مقابله وکړئ چې د ځانګړو زده کړو د قانوني پروسې په غیر انضباطي استماعیه غونډه کې له پرېکړو سره مقابله کوئ (پورته د *پرېکړو فاینل والی، استیناف* وګورئ).

## د قانوني پروسې د ګړندیو استماعیه غونډو په بهیر کې ځای
## 34 CFR §300.533; WAC 392-172A-05165

کله چې تاسو یا حوزې تر انضباطي موضوعګانو اړوند د قانوني پروسې د استماعیه غونډې غوښتنه ثبت کړې وي، ماشوم مو باید د استماعیې د افسر تر پرېکړې پورې یا د هغه اخراج د انقضاء د نېټې تر پای ته رسیدو پورې، هر یو چې لومړی پېښ شو، په لنډمهاله بدیل ښوونیز چاپېریال کې پاتې شي چې د *ښوونځي کارکوونکو* د صلاحیت تر سرلیک لاندې تشریح شوی؛ مګر دا چې تاسو او حوزه پر یه بل ډول تنظیمانو سره موافقه کوئ.

## د هغو زده کوونکو لپاره خونديتوبونه چې لا د ځانګړو زده کړو او اړونده خدمتونو مستحق نه دي
## 34 CFR §300.534; WAC 392-172A-05170

### عمومي
که ستاسو ماشوم د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدماتو لپاره وړ نه وي ټاکل شوی، او د زده کوونکو د چلند له اصولو څخه سرغړونه کوي، تاسو کولی شئ د خپل ماشوم طرزالعملي خونديتوب ادعا وکړئ که چيرې دا معلومه شي چې ولسوالۍ پوهه درلوده چې ستاسو ماشوم بايد ارزول شوی وي او د دې لپاره وړ وي. د ځانګړي زده کړې خدمتونه مخکې له دې چې چلند وشي د انضباطي عمل لامل شوی.

### د انضباطي مسايلو لپاره د پوهنې اساسات
يوه حوزه بايد داسې فرض شي چې د دې پوهه لري چې ستاسو ماشوم د ځانګړې زده‌کړې پر شرايطو برابر دی؛ تر هغه چلند وړاندې چې د دغه انضباطي اقدام سبب شوی:

1. تاسو د ښوونځي ښوونيزې حوزې ناظرو او اداري کارکوونکو يا ما د ماشوم کوم ښوونکي ته په ليکلي بڼه اندېښنه ښودلې چې ستاسو ماشوم ځانګړې زده‌کړې او اړوندو خدمتونو ته اړتيا لري؛
2. تاسو د IDEA د B برخې له مخې ځانګړې زده‌کړې او اړوندو خدمتونو لپاره پر شرايطو برابروالي لپاره د ارزونې غوښتنه کړې؛ يا
3. ستاسو د ماشوم ښوونکی يا د حوزې بل کارکوونکي ستاسو د ماشوم له لوري د حوزې د ځانګړو زده‌کړو مشر يا د حوزې نورو څارونکو کارکوونکو ته مشخصې اندېښنې ښودلې.

### استثنا
په دغه صورت کې به فرض نه شي چې حوزه دا ډول پوهه لري:

1. تاسو د خپل ماشوم د ارزونې اجازه نه ده ورکړې يا مو د ځانګړې زده کړې خدمتونه رد کړي؛ يا
2. ستاسو ماشوم ارزول شوی او ټاکل شوې چې د ځانګړې زده‌کړې خدمتونو لپاره پر شرايطو نه دی برابر.

### هغه شرايط چې د پوهې د اساساتو د نشتو په صورت کې پلي کيږي
که يوه حوزه د دې پوهه نه لري چې ستاسو ماشوم د ځانګړې زده کړې پر شرايطو برابر دی، ستاسو د ماشوم پر وړاندې د انضباطي اقدام له کولو وړاندې، لکه څنګه چې پورته *د انضباطي مسايلو لپاره د پوهې اساسات* او *استثنا* تر فرعي سرليکونو لاندې تشريح شوه؛ ستاسو ماشوم کېدای شي د هغو انضباطي اقداماتو تابع وي چې پر هغو زده کونکو پلي کيږي چې د ځانګړې زده‌کړې خدمتونه نه ترلاسه کوي او په ورته ډول چلندونو کې ښکيل وي.

سره له دې، که تاسو يا حوزه په هغه وخت کې د خپل ماشوم د ارزونې غوښتنه وکړئ چې هغه د انضباطي اقدام تابع وي؛ نو ارزونه بايد په استثنايي بڼه ترسره شي.

تر هغه چې ارزونه پای ته رسيږي، ستاسو ماشوم په هغه ښوونيز ځای کې پاتې کيږي چې د ښوونځي چارواکو ټاکلی چې په دې کې تعليق يا له ښوونيزو خدمتونو پرته ايستل شامليږي.

که ټاکل شوې وي چې ستاسو ماشوم د ځانګړو زده‌کړو خدمتونو پر شرايطو برابر دی؛ د حوزې لخوا ترسره شوې ارزونې معلوماتو او ستاسو لخوا وړاندې شوو معلوماتو ته په کتو حوزه بايد ستاسو ماشوم ته ځانګړې زده‌کړه او اړوند خدمتونه وړاندې کړي او پورته تشريح شوي انضباطي الزامات وڅاري.

## د قانون پلي کوونکو او قضايي چارواکو لخوا اقدام او هغو ته ارجاع
## 34 CFR §300.535; WAC 392-172A-05175
د IDEA په B برخه کې:

1. د ښوونځې حوزه نه ده منع شوې چې ستاسو د ځانګړو زده کړو پر شرايطو برابر ماشوم لخوا ترسره شوي جرم په اړه مناسبو چارواکو ته راپور ورکړي؛ يا
2. د ايالت د قانون پلي کوونکو او قضايي چارواکو مخه نه نيسي چې ستاسو د ماشوم لخوا ترسره شوي جرم په سبب د فدرال او ايالتي قانون له مخې خپل مسوليتونه ترسره کړي.

### د سوابقو لیږدول

که یوه ښوونیزه حوزه ستاسو د ماشوم لخوا شوي جرم په اړه راپور ورکړي، نو حوزه:

1. باید ډاډ ورکړي چې ستاسو د ماشوم د ځانګړو زده کړو او انضباطي سوابقو کاپۍ هغو چارواکو ته د غور لپاره استول شوي چې اداره د جرمونو راپورونه ورته لیږي؛ او
2. ښایي ستاسو د ماشوم د ځانګړې زده کړې او انضباطي سوابقو کاپۍ تر هغې کچې ولیږي چې FERPA یې اجازه ورکړي.

## په خصوصي ښوونځیو کې د زده کونکو د والدینو لخوا په عامه لګښت کې د یو اړخیزې ځایګاه اړتیاوې کله چې FAPE په مسله کې شته 34 CFR § 300.148; WAC 392-172A-04115

که باور لرئ چې ښوونیزه حوزه ستاسو د ماشوم لپاره FAPE نه شي برابرولی او تاسو د حوزې له موافقې پرته خپل ماشوم په خصوصي ښوونځي کې شاملول انتخابوئ، نو دلته ځانګړي ګامونه شته چې باید د خصوصي ښوونځي لپاره یې له حوزې څخه د بیا تادیې د غوښتنې په پار تعقیب کړئ.

### د خصوصي ښوونځي د ځای لپاره بیا تادیه

که ماشوم مو له مخکې له ښوونیزې حوزې څخه د ځانګړو زده کړو او اړوند خدمتونه ترلاسه کړي وي او انتخابوئ چې خپل ماشوم تر وړکتون مخکې خصوصي دوره، ابتدایي ښوونځي یا ثانوي ښوونځي کې د حوزې د رضایت یا ور ته له مراجعې پرته شامل کړئ، نو محکمه یا ALJ له حوزې وغواړي چې د یاد شاملولو لګښت درکړي، که محکمه یا ALJ پوه شي چې ښوونیزه حوزه ستاسو ماشوم ته تر شاملېدو مخکې پر خپل وخت FAPE نه و برابر کړی او دا چې شخصي ځای مناسب دی. محکمه یا ALJ ممکن ستاسو ځای مناسب وګڼي، حتی که ځای هغه دولتي معیارونه نه پوره کوي چې د حوزو لخوا پر چمتو شوې زده کړې پلي کیږي.

### پر بیا تادیې باندې محدودیتونه

په پورته پاراګراف کې د بیا تادیې تشریح شوی لګښت ښایي راکم یا رد شي:

1. که: (الف) د IEP په هغه وروستۍ ناسته کې چې له عامه ښوونځي څخه د خپل ماشوم تر اخراج مخکې مو پکې برخه اخیستې وه، IEP ټیم ته ونه ویل چې د حوزې لخوا مو خپل ماشوم ته د FAPE چمتو کولو لپاره وړاندیز شوی ځای رد کاوه، د خپلو اندېښنو بیانولو او خپل ماشوم په عامه لګښت سره په خصوصي ښوونځي کې د شاملولو د ارادې په ګډون؛ یا (ب) له عامه ښوونځي څخه د خپل ماشوم تر اخراج لږ تر لږه 10 کاري ورځې (د هرې هغې رخصتۍ په ګډون چې په یوه کاري ورځ کې پېښېږي) مخکې مو د یادو معلوماتو لیکلي خبرتیا حوزې ته ورنه کړه؛
2. که حوزې له عامه ښوونځي څخه ستاسو د ماشوم تر اخراج مخکې تاسو ته یوه ستاسو د ماشوم د ارزولو په اړه د خپل نیت په تړاو له مخکې لیکل شوې خبرتیا (د ارزونې د موخې د هغې بیانیې په ګډون چې مناسب او معقول و) درکړې وه، خو تاسو خپل ماشوم د ارزونې لپاره حاضر نه کړ؛ یا
3. یا د محکمې لخوا په دې پوهېدو سره چې اقدامونه غیر معقول وو.

که څه هم د بیا تادیې لګښت:

1. د خبرتیا په چمتو کولو کې د پاتې راتلو له امله باید راکم یا رد نه شي، که: (الف) ښوونځي تاسو ته د خبرتیا چمتو کولو څخه ډډه کړې یا (ب) تاسو د پورته بیان شوي خبرتیا د چمتو کولو لپاره د خپل مسوولیت په تړاو خبرتیا نه ده ترلاسه کړې؛ او
2. کېدی شي د محکمې یا ALJ په اختیار کې، د اړینې خبرتیا د چمتو کولو په برخه کې ستاسو د پاتې راتلو له امله راکم یا رد نه شي، که: (الف) مو لیک او لوست زده نه وي یا په انګلیسي ژبه لیکل نه شئ کولی؛ یا (ب) له پورتنۍ الزام سره موافقت ممکن ستاسو ماشوم ته جدي احساساتي زیان ورسوي.

## سرچينې

که د پروسيجري خونديتوبونو په اړه پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره د خپل ښووونې له ښووونيزې حوزې يا OSPI سره اړيکه ونيسئ:

OSPI
PO Box 47200
Olympia, WA 98504
360-725-6075
speced@k12.wa.us
OSPI - د ځانګړې زده‌کړې ويبپاڼه
OSPI - ځانګړې زده کړه - د کورنيو ويبپاڼه

لاندې عامه تمويل شوی سازمان ښايي وکولی شي چې په واشنګټن ايالت کې د ځانګړې زده کړې خدمتونو په اړه اضافي معلومات درکړي:

Partnerships for Action Voices for Empowerment (PAVE)
6316 South 12th Street
Tacoma, WA 98465
(800) 5-PARENT (v/tty)
برېښناليک: pave@wapave.org
ويبپاڼه: Partnerships for Action Voices for Empowerment (PAVE)

# حقوقي خبرتیا

د دې به استثنا چې بل څه لیکل شوي وي، دا کار چې د د واشنګټن د عامه لاربنوونو د ناظر اداري لخوا شوی، د د Creative Commons د انتساب جواز جواز لري. ټولې لوګو ګانې او سوداګریز مارکونه د دوی د درنو مالکانو ملکیت دی. هغه برخې چې د عادلانه کاروني دکتورین (U.S.C. § 107 17) له مخې کارول شوې، په نښه شوې دي.

*د بدیلو موادو جوازونه د کاروني اجازې له بېلابېلو کچو سره په منځپانګه کې د ځانګړو موادو منځپانګې ته نیږې ښکاره ښودل شوي.*

*په دې سرچینه کې ښایي د داسې وېبپاڼو لینکونه وي چې د دریم اړخ لخوا چلېږي. دا لینکونه یوازې ستاسو د راحتی لپاره وړاندې شوي او د OSPI لخوا هیڅ کومه تاییدي یا څار نه لري.*

*که دا کار اقتباس شوی وي، اساسي بدلونو او تکراري سرلیک ته یې ته پام وکړئ او د واشنګټن د عامه لاربنوونو ناظر دفتر هره لوګو چې وي، لرې یې کړئ. لاندې انتساب یا اسناد وړاندې کړئ:*

*«دا سرچینه له هغو اصلي موادو اقتباس شوې چې د عامه لاربنوونو د ناظر اداري لخوا وړاندې شوي. اصلي مودو ته دلته لاسرسی لرلی شئ OSPI – ځانګړې زدهکړه.*

*OSPI ټولو پروګرامونو او خدمتونو ته د جنسیت، نژاد، اصل، دین، رنګ، ملیت، سن، په درناوي متقاعد پوځي یا پوځي حالت، د جنسیت ښودلو یا جنسي هویت په ګډون جنسي تمایل؛ حسي، رواني یا فزیکي معلولیت یا د معلول کس له لوري د روزل شوي سپي لاربښوونې یا خدمتي حیوان کارولو پر بنسټ تعصب پرته یو شان لاسرسی وړاندې کوي. د ادعا شوي تعصب په اړه پوښتنې او شکایتونه باید د مساواتو او مدني حقونو مشر ته د360-725-6162 یا P.O. Box 47200 Olympia, WA 98504-7200 له لارې وړاندې شي.*

*دا مواد له دغه ځایه په PDF بڼه ډاونلوډ کړئ OSPI – ځانګړې زدهکړه – پروسیجري خوندیتوبونه. دا مواد له د غوښتنې له مخې په بدیلو فارمټونو کې هم شته. په 888-595-3276 شمېره، تلګراف 360-664-3631 د سرچینو له مرکز سره اړیکه ونیسئ. مهرباني وکړئ د چټکو خدمتونو لپاره د سند دغه نمبر ته مراجعه وکړئ: 0005-22.*

ESTD
1889

*ټول زده‌کوونکي چې تر متوسطه وروسته مسیرونو، کریرونو یا مسلکونو او مدني ښکېلتیا لپاره تیار شوي.*

**Chris Reykdal** | State Superintendent
Office of Superintendent of Public Instruction
Old Capitol Building | P.O. Box 47200
Olympia, WA 98504-7200

Washington Office of Superintendent of
**PUBLIC INSTRUCTION**